احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

# حق پاڅون

بیانگر اهداف اتحاد اسلامی افغانستان



- مونږ د القدس شریف د آزادۍ لپاره څوځواری د جهاد اعلان کړیدی
- اعلان شوی عبوری حکومت په خپل ذات کښې یو پراخ بنسټی حکومت دی

پشتیباني از حکومت اسلامي
انتقالي افغانستان مکلفیت شرعي و ملي فرد فرد
این ملت مجاهد است

## رمضـــــــــان: ماه أجر و پیروزي، ماه زهد و شکیبائي

زرينى وړانگى

# د مؤمنانو د مکافات ورځ

د وړوکی اختر ورځ د خدای دمؤمنو بندګانو د مکافات ورځ ده د هغو مؤمنانو د مکافات ورځ چی د رمضان دمبارکی میاشتی په اوږدوکی یی شپه په قیام او ورځ په صیام تیره کړیده قیام د تراو یحو او تهجد د لمانځه او په تراو یحوکښی د قرآن کریم د ختم په خاطر اوصیام ، د سهار له سپیده داغ نه د ماښام ترغونی پوری د خوراك څښاك او نفسی خوندونو څخه په پرهیز کولو سره چی الله تعالی په خپلو دغوفرمان منونکو مخلصو بندګانو باندی د ملائکو په ټولی کښی د فخر او و یاړ څرګندونه کوی او هغوی د خپلی رضاء او مغفرت په نعمت سره سر لوړی کوی لکه چی په یو مبارك حدیث کښی راځی : عن انس رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اذا کان لیلة القدر نزل جبریل في کبکبة من الملائکة یصلون علی کل عبد قائم اوقاعد یذکرالله عزوجل فاذا کان یوم عیدهم یعنی یوم فطرهم باهي بهم ملائکته فقال یا ملائکتی! ما جزاء اجیر وفي عمله ؟ قالوا : ربنا جزاءه ان یوفی اجره . قال ملائکتی ! عبیدی وامائی قضوا فریضتی علیهم ثم خرجوا یعجون إلی الدعاء وعزتی وجلالي وکرمی وعلوی وارتفاع مکانی لاجیبنهم فیقول ارجعوا قد غفرت لکم و بدلت سیأتکم حسنات قال فیرجعون مغفورا لهم . « رواه بیهقي »

بیهقي د حضرت انس « رض » عنه روایت رانقل کړیدی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چی د قدر شپه شی نو جبریل علیه السلام د پریښتو په یوه ستره بدرګه کښی راکوزیږی او دهر هغه بنده لپاره دعا کوی چی په دی وخت کښی ولاړ یا ناست وی او د الله عزوجل په عبادت بوخت وی ، بیاچی د اختر ورځ راشی نو الله تعالی په خپلو بندګانو باندی د ملائکو په ټولی کښی فخر کوی او وائی ای زما پریښتو ! د هغه نوکر مکافات څه دی چی خپله نوکری یی ترسره کړی وی ؟ پریښتی عرض کوی : پروردګاره ! هغه مکافات دادی چی د هغه اجوره اومزدوری پوره ورکړه شی . الله تعالی فرمائی : ای زما پریښتو ! زما دغو نارینه ؤ او ښځو بندګانو خپله فریضه چی ما ور باندی فرض کړی وه اداء کړه ، اوس دوی « د اختر د لمانځه اداکولو او » په زاری او تضرع سره ددعا غوښتلو لپاره له خپلو کورونو څخه راوتلی دی ، زما دی په خپل عزت ، جلال ، مهربانی ، لوړتیا او لوی شان باندی قسم وی چی زه به هرو مرو ددوی دعاوی قبلوم . بیا الله تعالی خپلو بندګانو ته په خطاب کښی وائی : لاړشیء ماتاسی ته ښښنه وکړه او ستاسی بدی می په نیکیو بدلی کړی ـ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چی بیادوی پداسی حال کښی کورونو ته ستنیږی چی د ګناهونو څخه پاك او بښل شوي وی .

دادی د مؤمنو بندګانو د قیام اوصیام مکافات چی د لوی او ښونکی خدای لخوا ورکول کیږی ، خوښی د هغه چا په حال باندی چی د رمضان د میاشتی له فیوضاتو څخه په استفادی سره یی خپل ځان د خپل پروردګار د خاص عنایت او پیزونی مورد ګرځولی او ددغی میاشتی د ستراوبی ریا عبادت په ترسره کولو سره یی د خدای رضا حاصله کړی وی او خواشینی دهغه‌چا په حال باندی چی دنیکیو دغه پسرلی یی د غفلت په خوب کښی تیرکړ او بیاهم د ګناهونو په خیرنه جامه کښی پاتی شو .

(کشاف)

V2 N18
احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

# حق پاڅون

بیانگر اهداف اتحــــاد اسلامی افغانستان

سال دوم/ شماره/ ۱۸_ ماه حمل
۱۳۶۸ هـ ش

## فهرست

۱ ـ ســرمــقــالــه . . . . . . ٤
۲ ـ مــاه مــبــارك رمــضــان ٦
۳ ـ د عبوری حکومت د محترم صدراعظم ۹
٤ ـ حکومت عــبوری مجاهدین ۱٤
٥ ـ د عبوری حکومت د غړو بیوگرافی ۱٦
٦ ـ د عبوری حکومت د مخابراتو د .... ۲۱
۷ ـ مصاحبه بـوزیر دعوت وارشاد ۲۳
۸ ـ غیبت وعواقب آن درمجتمع اسلامی ۲۹
۹ ـ اختلاف وخلاف درشریعت اسلامی ۳۹
۱۰ ـ گرجستان د گور باچوف سر خلاصی.... ٤۳
۱۱ ـ اخوان المسلمین درمسیر دعوت ٥۰
۱۲ ـ راغلی لــیــکــونــه ٥٤

مسئول مدیر: ولی الله سلیم

هیئت تحریر: هائد، جهید، مموزی

سال ۱۳۶۸ هجری شمسی و بامدادان نو بهار آن آرمانها، ارمغانها، پیامها و مسرتهای زائدالوصفی را برای امت مسلمه و بویژه ملت مجاهد وخدا پرست افغانستان باخود آورده است. بیمورد نخواهد بود که سال جدید خورشیدی را سال فتح و پیروزی اسلام ومسلمین برکفر جهانی وخصوصا بلاك كمونيزم بین المللی تلقی نمود، درست در پیشواز سال جدید دولت اسلامی عبوری افغانستان بادرنظرداشت اصول انقلابی وجهادی ازطرف نمایندگان اصیل ملت مسلمان افغانستان وعلماء جید ومجاهد وانقلابیون باهدف. درفضای کاملا اسلامی تصویب ووزراء کابینه آن اعلان وشخصیت های برجستهء انقلاب اسلامی به صفت وزراء ومعاونین ان تعیین گردیده است. ازطرف دیگر دیپلوماسی سیاسی جهاد ما درسطح دول اسلامی انگیزهء سپردن چوکی افغانستان را به فرزندان مؤمن ومجاهد آن بعمل آورده که در پهلوی همه فتوحات نظامی واستراتیژی. یگانه فتح بشمار میرود که قلب دشمن ملحد وباداران طاغوتی آنرا کوبیده است وانشاء الله فتح افغانستان کلید حل همه منازعات جهانی وآزادی جهان اسلام خاصتا القدس شریف خواهد بود.

رسالت انقلاب اسلامی ومعیارهای جهادی حکم میکند که در پرتو هدایات إلهی وارشادات گرامی پیامبر اسلام صل الله علیه وسلم این حکومت را که دست آورد خون بهای هزاران شهید راه خدا «ج» است ازصمیم قلب تأیید وحمایت نمائیم وبرماست تا قناعت دیگران را درقسمت مواقف اسلامی وانسانی دولت مؤقت مجاهدین فراهم نمائیم و به صفت عنصر جذب وداعی ال الله درافامهء نظام شریعت وقانون خدا درسرزمین بخون کشیده خویش باترك امتیازات وتعصبات گروهی وحزبی خدمتگذار شویم وتوطئه دشمنان را خنثی نمائیم.

پس بیائید ازحکومت اسلامی دلخواه، گسترده ومردمی خود که نتیجهء مجاهدات ومبارزات طولانی ملت مؤمن ومجاهد ماست تمام هم وعزم خویش را مبذول بداریم تا یکبار دیگر با احیای خلافت اسلامی عزت وعظمت فراموش شدهء اسلام عزیز ومسلمانان را زنده گردانیم و باتجلیل ازفتوحات سیاسی ونظامی اینك گذشت ماه عظیم مبارك رمضان ونزول قرآن را با حلول عید سعید فطر وضیافت سبحانی بهمه مجاهدین مؤمن ومهاجرین آوارهء کشور مبارك باد میگوئیم.

عید همهء تان مبارك

اداره

سر مقاله

# دازمینت ورستي مورچل

د سور پوځ له ماتی او وتلو وروسته د کابل لاس پوڅی رژیم د وارسا بلاك ونډه والو، غوا پرستو هندوانو او په کریملن پوری تړلو ډلو ټپلو برسیره د بی بی سی او امریکا غږ راډیوگانو او دغربی نړۍ بی بندو باره او اسلام دښمنه مطبوعاتو پدی وروستیو وختوکښی چی زمونږ ستر اسلامی پاڅون د بری په وروستی درشل د ورختو په حال کښی دی، په یو ناروا، زهرجن او له کینی ډك روانی جنګ باندی گوتی پوری کړی او په ډیر زور او زوږ سره دازیار باسی چی په مؤمن او اتل افغانستان کښی د یونیم ملیون شهیدانو د گرمو وینو د نذرانی په بدل کښی د یو اصیل اسلامی حکومت مخه ډب کړی، نو د همدی نا وړ او کرغیړن هدف د ترسره کیدو پخاطر پورتنی حلقی په ډیری بیړې او بی شرمی سره هڅه کوی ترڅو دنیا والو ته داسی وښائی چی گوندی مجاهدین نشی کولای د وسلی په زور د کابل حکومت راچپه کړی او خپل اعلان شوی عبوری حکومت د هغه جانشین کړی چی د بیلگی په طور باندی یی د جلال آباد روانه خونړی جگړه د خپلو مطبوعاتو سرخط او محوری نقطه گرځولی او سبا بیگا په لاندینیو دریو ټکو باندی ټینگار کیږی یو داچی د خلق د ډیموکراتیك بدنام گوند سره دسولی، تفاهم او خبرو اترو غوښتنه کیږی دو یم داچی د پاکستان د عسکری مداخلی تور لگول کیږی او دریم داچی د عربی مشاورینو د برخوالی ډنډوری وی.

نو بناءً باید په صراحت سره وویل شی چی د جلال آباد جنګ اگر که د جهاد په اوږدو کښی د وخت او تلفاتو له لحاظه خورا درووند او اوږد جنګ دی خو بیاهم دا د مجاهدینو دعادی پروگرام یو جز دی چی د هغه پخاطر د نورو سیمو څخه نه کوم جهادی قوتونه را انتقال شوی او نه مجاهدین د روسانو او دهغوی د افغانی بړیڅو غوندی وحشی لیوان دی چی د تور او سپین او وچ اولوند د توپیر څخه عاجز وی. او نه هم داجنګ د مجاهدینو د عسکری ځواك سیاسی تدبر او ټولنیز تفاهم په لارکښی خنډ او د ازمینت وروستی مورچل کیدای شی.

نړیوال باید پدی پوه شی چی داجنګ «جهاد» د روسانو له راتللو څخه پنځه سوه ځلو یښت ورځی د مخه په منظم او مسلح ډول د افغانستان د اصیل اسلامی نهضت په مستقیمه لار ښوونه او قوماندہ باندی د کی جی بی د پخوانی سرخوړلی ایجنټ نورمحمد تره کی او بلکی له هغه څخه هم د مخه د مغرور کودتا چی «داود خان» په ضد پیل شوی ؤ او تر هغی به انشاء الله تعالی دوام مومی ترڅو د مجاهد افغانستان څخه د کفر او فتنی ټغر نه وی ټول شوی او په کابل کښی له خدایه باغی او له ملت څخه د تجرید شوی کمونست رژیم په ځای د اسلامی عدل

او برابري نظام نه وي قايم شوی .
دا جنګ د کوم دنیاوی مال او متاع اوجاهلي تولنو په څیر د قدرت غورځی پرځی نه دی چی په هغی کښی د ځه واخله او ځه راکړه په سیاسی تجارت باندی تعامل وشی ، داجنګ د کفر او کمونیزم په ضد یو وسله وال اسلامی پاڅون دی داچی هغه کفر روسی وی اوکه افغانی !؟
اوبا لاخره داد دوو مختلفو نظریو او عقیدو په اصولو بنا جنګ دی چی یوه خوائی اسلام او دبی لاری بشریت د نیکمرغی د سباوون پیغام دی او بله خوائی کفر ، وحشت او د تباهی توری لوخړی دی .
داجهاد پداسی وخت کښی پیل شوی ؤ که له یوی خوا د کم او کیف په لحاظ وسلی بی خونده او په هیڅ حساب وی نو له بلی خوا ددی نهضت د شهیدانو شمیر د ګوتو په شمیر وو ، نه جوماتونه رنګ شوی وو او نه هم سړکونه ، پلونه ، روغتونه ، ښوونځی ، کاریزونه ، باغونه ، زراعتی مځکی او ځنګلونه د ناپالم اوسکاډ په لمبو کښی لولپه شوی ؤ نو په داسی حال کښی چی مجاهدین د پوځی ځواکمنی له امله ددنیا یوستر طاغوتی طاقت پرمخی پرمځکه راو یشتی وی ، باندی ، کلی اوښارونه یی په کنډوالو بدل شوی وی ، یونیم ملیون مؤمنی ککری د خدای « ج » ددین د حمائی او وطن د آزادی په لارکښی د چینداره ټانکونو په پټلیو غوبل شوی وی ، په لکونو تنکیو ځوانانو خپلی سترګی ، لاسونه او پښی له لاسه ورکړی وی په سلوکښی نوی خاوره یی آزاده کړی وی ، د اسلامی امت د عزت پر یوتلی شمله یی راپورته کړی وی او په سیاسی ډګر کښی یی د یوی پراخ بنسټی مشورتی شوری په نتیجه کښی خپل اسلامی انتقالی حکومت اعلان کړی وی او په اسلامی کنفرانس کښی د خپل ملت د یوازنی ممثل په صفت منل شوی وی او د یوشمیر هیوادنو له خوا په رسمیت هم پیژندل شوی وی نو بیا څرنګه کیدای شی چی د مرګ ، تسلیمی او د تیښتی په دری لاریزی ولاړ رژیم سره د خپلو اصولو او مبدأ په سر خبری اتړوکړی ؟ په حکومت کښی یی له ځان سره ومنی ؟ او یاهم د ګردی میز ترشا ورسره د تفاهم لاره خپله کړی ؟ نه هیڅکله نه دایوهم نشی کیدلای بلکی ددوی لپاره د ابرو همدا یوه لاره پاتی ده چی باید خپله وسله په مځکه کیږدی او د انتقالی حکومت د عمومی ښښنی له اعلان څخه په ګټی اخیستلو سره د غم ، و یر او بر بادی دا ترا ژیدی ډیره ژر پای ته ورسوی .
پته دی نه وی پاتی چی د افغانستان د اسلامی انقلاب او اصیل تاریخ جوړونکی جهاد په تیرو سختو پړاوونو کښی مؤمنو مجاهدینو نه چاته د وطن پلورونکو کمونستانو غوندی د مداخلی بلنه ورکړی او نه هم ورته ضرورت احساس شو یدی اونه هم چاته ددی اجازه ورکوی ، ولی داهم په داګه وایو چی جهاد یوازی د افغانستان د خلکو فریضه نه ده بلکی جهاد عبادت دی او عبادت په یوخاص قوم او ملت پوری اختصاص نه لری هر څوک چی د خدای « ج » په بندګی قانع وی او د خدای « ج » اوامرو ته یی غاړه ایښی وی هغوټول پدی عبادت باندی مکلف او دافغانستان دروازی د هغو په مخ خلاصی دی .

**سلیم**

حق پاڅون

# رمضـــــــان: ماه أجر و پیروزي، ماه زهد و شکیبائي

در توالی ایام و شهور ماه مبارک رمضان ماه فضایل ،بر کات،مواسات ،عظمت ها و ارجمندی های خاصی میباشد زیرا این ماه ماه صیام ، قیام ، قرآن ،استجابت دعا ضیافت الهی و فتوحات اسلامی است البته نمیتوان تمام فیوضات و فوائد این ماه مبارک را درین مختصر قلم ریزی و خلاصه کردولی درینجا صرف گوشهٔ کوچکی از فوائد و خصوصیات آنرا در پرتو دستورات والای الهی و احادیث گهربار حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر مینمائیم .

خداوند پاک جلت عظمته ضمن آیات کریمه از قرآن عظیم الشان میفرماید:

« شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن هدی للناس و بینات من الهدی و الفرقان فمن شهد منکم الشهر فلیصمه و من کان مریضاً او علی سفر فعدة من ایام اخر.

ترجمه : ماه رمضان آنست که فرو فرستاده شد در آن قرآن که هدایت است به مردم و دلیل های روشن از رهنمائی و امتیاز حق و باطل پس کسیکه دریابد از شما آن ماه را پس روزه گیرد آنرا و هر که بیمار بود یادر سفر پس بروی لازم است تکمیل شمار آنچه فوت شده از روزهای دیگر .

همچنان پیغمبر بزرگوار اسلام رسول الله صلی الله علیه وسلم میفرماید :

« بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لااله الاالله و ان محمدا رسول الله واقام الصلاة و ایتاء الزکات و حج البیت وصوم رمضان » .

بنیاد گذاری شده است اسلام بر پنج بناء . گواهی بر اینکه نیست هیچ معبود بر حق بجز خدا (ج) و محمد صلی الله علیه وسلم پیامبر خدا (ج) است ، برپا داشتن نماز پنجگانه دادن زکات ،حج خانه کعبه شریفه وروزه ماه مبارک رمضان بناء هرسال طی ماه مبارک رمضان گرفتن روزه بر هر مسلمان عاقل و بالغ فرض وواجب الاداء میباشد .

که فرضیت آن به کتاب الله سنت رسول الله (ص) و اجماع امت ثابت است روزه در لغت به معنی مطلق امساک (باز داشتن) میباشد . و در شریعت اسلامی عبارت از یک مکلفیت الهی و سومین رکن اسلام میباشد که باز داشتن نفس است از خوردن نوشیدن و جماع از صبح صادق تا شامگاهان در ماه مبارک رمضان .

روزه قبل از اسلام بالای امت های سابقه نیز فرض بود طوریکه خداوند (ج) ضمن آیه کریمه از قرآن عظیم الشان میفرماید :

( یاایها الذین آمنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون )

ترجمه: ای ایمانداران فرض گردانیده شده بر شما روزه گرفتن ( ماه رمضان) طوریکه فرض شده بود بر امتان قبل از شما . بنا بران اجر و ثواب روزه نزد خداوند (ج) آنقدر زیاد است که حتی هیچ اندازه و سرحد آنرا معین نکرده است .

چنانچه فخر کائنات حضرت محمد (ﷺ) ضمن حدیث قدسی میفرماید: که ترجمه آن چنین است ! هرعمل نیک بنی آدم ثواب آن دوچند داده میشود تا به ده برابر تا هفتصد چند مگر روزه ماه مبارک رمضان که خداوند (ج) میفرماید روزه از من است و من روزه دار را اجر و پاداش میدهم .

همچنان ضمن حدیث دیگری حضرت پیغمبر علیه الصلاة والسلام راجع به فضیلت روزه ارشاد میفرماید : بوی دهن روزه دار به نزد خداوند(ج) از خوشبوئی مشک وعنبر بهتر است .

همچنان حضرت پیغمبر علیه الصلاة والسلام میفرماید : برای روزه دار دوخوشی مهم وارزنده میباشد یکی در وقت افطار روزه و دیگر در روز قیامت زمانیکه نزد پروردگار خویش ملاقی میشود .

بزرگترین فضیلت ماه مبارک رمضان اینست که منبع ومنشأ فضایل ورهنمای متقیان کاملترین کتاب مقدس

الهی قرآن عظیم الشان در آن نازل گردیده که دلیل قاطع برآن این قول خداوند تبارک وتعالی میباشد: «شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن» ترجمه:- «ماه رمضان آنست که فروفرستاده شد درآن قرآن. البته نزول قرآن کریم در ماه مبارک رمضا ن نزول اولی قرآن عظیم الشان بوده که بصورت مجموعی ازلوح محفوظ به سماء دنیا نزول یافته است وبعداً نجماً نجماً وآیة آیة مطابق ضرورت وایجاب شرایط و حالات در طول ۲۳ سا ل توسط ملائکه مقرب خداوند (ج) حضرت جبرئیل امین (ع) بالا ی حضر ت محمد ر سول الله (ص) نازل گردیده است بناء رمضان نه تنها ماه صیا م بلکه ماه قر آن نیزمیباشد.

شبی که قرآن عظیم الشان درآن نازل شده درماه ر مضان شب قدر میباشد چنانچه خداوند (ج) میفرماید: انا انزلناه فی لیلة القدر. ما نازل گردانیدیم قرآن را در شب قدر. شب قدر شبی است که خداوند (ج) به آن شب مبارک گفته است چنانچه میفرماید: اناانزلناه فی لیلة مبارکة.

شب قدر شبی است بهتر ازهزار ماه دیگر چنانچه خداوند(ج) میفرماید: لیلة القدر خیر من الف شهر ترجمه: شب قدر بهتر است ازهزار ماه دیگر. یعنی پاداش و ثواب عبادت در آن از اجر و مزد هزار ماه عبادت در ایام دیگر بهتر است.

بنابران وجود شب فیضانی قدر درخلال ماه رمضان ازفضایل بس بزرگ دیگر رمضان به شمارمیرود.

ازانجایکه درهمه احکام وارشادات پرارزش وسودمند ذات اقدس الهی جلت عظمته که ذات حکیم وداناست حکمت های عظیمی نهفته است بنأء روزه ماه مبارک رمضان نیز چون سائر عبادات دیگر من حیث یک وجیبه الهی علاوه از پاداش و ثواب اخروی در دنیانیز مملو از مزا یا و فوائد زندگی ساز فر دی، اجتماعی، صحی، اقتصاد ی و . . . میباشد.

بلی وقتی انسان مؤمن وهدفمند با کمال صداقت و اخلاص ونیت پاک عبادت وحصول رضای خداوند (ج) در طو ل ماه مبارک رمضا ن نه تنها از صبح الی شام از خورد ونوش اجتناب کند بلکه به مقتضی روزه ازتمام امیال شوم شیطانی وخواهشات خبیثه نفسانی خود را باز داشته و به همه احکا م ارزشمند شریعت پرفروغ اسلامی عمل نماید پس بدو ن شک و تردید که با اجرا ی این همه اعما ل صادقانه و مخلصانه انسان مؤمن تزکیه شده از بارگاه خداوند متعا ل کسب فیض و برکت نموده وبه مقام عالی تقوی که عامل اساسی وضامن فوزوسعادت دارین است نایل میگردد.

همچنان ازینکه تحمل مشقات و مکلفیت های روزه ماه مبارک رمضان ایجاب صبر و حوصله را مینماید بناء گفته میتوانیم که روزه به صائم استقامت دربرابر دشواری ها بخشیده انسان را باثبات و پر متانت میگرداند که هیچ گاه در برابر امواج و کشمکش های زندگی شکست نخواهد خورد وچون کوه پابرجاو ثابت قدم خواهد بود به همین ترتیب از فیض وبرکت ماه مبارک رمضان وفضل ایزد متعال جلت عظمته در سلسله مبارزات بهم پیوسته ومستمرحق وباطل علیه همدیگر مجاهدان راه خدا(ج) ورزمندگان مکتب دورانساز اسلام درسنگرهای گرم وداغ جهاد ومبارزات پیگیر وبی امان اسلامی علیه کفروالحاد به پیروزی های چشمگیر وشگفت انگیز ی طی شهر پر فضیلت روزه بردشمنان دین اسلام نایل آمده اند زیرا این ماه، ماه فتوحات اسلامی نیز میباشد این ماه، ماه تقوا صبر و ثبات است وتقوی یگانه عامل پیروزی لشکر اسلا م بر پیروان شیطا ن است زیرا خداوند (ج) یارو مدد گار متقیان است چنانچه ضمن آیه کریمه ازقرآن عظیم الشان میفرماید:

(ان الله مع الذین اتقوا والذین هم محسنون)

حقیقت مسلم است که وقتی خداوند با کسی یاگروهی نصرت دهد هیچ گروه وهیچ قدرتی آنرا مغلوب کرده نمیتواند طوریکه خداوند (ج) میفرماید:

(ان ینصرکم الله فلا غالب لکم وان یخذ لکم فمن ذالذی ینصرکم من بعده.)

تاریخ پرجلال ودرخشان جهادبرحق اسلامی از صدر اسلام تاامروز ازدامنه های

غزوهٔ بدر 'فتح مکه' تبوک وحنین تا صحنه‌های نبرد خونین کشور به‌خون غنوده‌ماافغانستان'طی ماه‌مبارک رمضان شاهد پیروزی های بی شمار سپاهیا ن باشهامت‌وغیرت مند اسلام برلشکریان طاغوت واهریمنان میباشد .

غزوات‌تاریخی ایکه در صدر اسلا م درماه‌مبارک‌رمضان بوقوع پیوسته در نتیجه پیر وزي ازآن‌لشکرحق‌وشکست وذلت نصیب لشکرباطل گردیده‌است بطور مثال جنگ بدرکه بتاریخ هفدهم رمضان سال دوم هجری بوقوع‌پیوسته است حضرت‌قائدالمجاهدین‌محمدرسول الله (ص) باهمراهی تقریباً۳۱۳یا۳۱۴ تن از یار ان‌با صفایش حضرات صحا به کرام (رض) توانستند لشکر یکهز ار نفری مشرکین را باهمه شن‌وفن نظامی شان‌در هم شکسته ومغلو ب‌نما یند.

نبرد خونین که طی ماه رمضان سال ۱۹۲۷ ه ق بین کشورهای اسلا می عرب وصهیونیزم‌متجاوز بوقرع‌پیوست نیزطی آن برادران‌مجاهدعرب‌برلشکر کفر پیروز گردیدند .

تاریخ درخشان جهاد اسلامی ماعلیه کفر وکمونیزم در سلسله پیروزی‌های چشمگیرملت مؤمن وغیرتمندافغانستان علیه قوای متجاوز روس وگروه های فرومایه خلق وپرچم‌نیز شاهدپیروزی های‌ویژه مجاهدین‌درماه مبارک‌رمضان میباشد . که من جمله میتوان‌پیروزی رمضان سال ۱۳۶۶ه‌ق‌سرزمندگان اسلام را در کوه‌پایه های سر بفلک کشید ه جاجی بر قوای وحشی روس نام برد.

وهم اکنون که گروه های ملحد و مزدورسوسیال‌امپریالیزم جنایتکاردرزیر ضربات کوبنده وکاری ملت کفرشکن ما درحالت نابو دی کلی قرار دارد انشاءالله‌زوداست که از فیض وبر کت این ماه مبارک تمام مناطق کشور عزیزما از لوث باندهای ملحدو وطنفروش پاک گردیده‌لوای پر عظمت توحید بر فراز کابل وسایر مناطق‌آن در اهتزاز در آمده وقلب های مجروح صدها هزار نفراز فرزندان اصیل‌ود رد مند اسلام در سراسر گیتی‌مرهم نهاده شود .

بلی ! باندهای ملحد ومزدور خلق وپرچم‌این‌دست‌پروردگان وبازیچه‌های دست استعمار که با همدستی وتجاوز مستقیم خرسهای‌قطبی برحیثیت‌اسلامی و سر ز مین آبائی ما بـرار یکه و طن فروشی نصب شده اند اکنون که‌تاب مقاومت را در برابر امواج طوفانی و و خروشان انقلاب دوران‌ساز اسلامی ما از دست داده اند احمقا نه فکر میکنند با سردادن نیرنگ دیگر و آن اینکه خود را ظاهراًمسلمان جلوه‌دهند خواهند توانست ملت طاغو ت شکن وکفر بر انداز مارا فریب داده‌وخود چند روز بیشتر به عمر کثیف‌و ننگین خو یش دوام خواهند داد .

ولی این خیا ب است وخیا ل است ومحال است وجنون .

به هر طرزیکه‌خواهی جامه‌میپوش
من از طرز خرامت میشناسم

اکنون چهره‌های‌اصلی‌این کاسه‌لیسان دون‌همت‌وجواسیس روس که‌دست‌های کثیف شان باخون پاک‌صدها هزار تن از بهترین فرزندان مکتب توحید سرخ است برملت مسلما ن افغانستان و کافه مردم دنیا نمایان شده است . ولو به هر شکل خود رارنگ هرلباس را برتن وهر خدعه ونیر نگی را در پیش گرفته تکرار نمایند باز هم ملت بیدار وتعلیم یافته گان مکتب انسا ن ساز اسلام به این همه‌دروغ با فی‌های آنها هرگز بازی نخورده و میداند که

به تواضع‌های‌دشمن‌هرگزمنال‌بیدل
که‌خم‌خم رفتن صیادبهرقتل‌مرغان‌است

بناء جها د و قیام ظفر مند ما که به ا سا س عقیده و ا یما ن به ذ ا ت اقدس الهی بخاطر اعلای کلمهٔ الله حاکمیت دین خدا (ج) ونابودی‌کامل فتنه وفساد وکفر والحاد آغازگر دیده باکمال قاطیعت الی ازبیخ‌وبن‌بر کندن آخرین ریشه‌های کفروالحادادامه دارد

در اخیر ما در حا لیکه ماه مبار ک رمضان سال ۱۴۰۹ ه ق را به ملت مؤمن ومجاهد افغانستان وکا فه امت مسلمه خیر مقدم میگویم از بارگاه ذات اقدس الهی جلت عظمة الجاء دار یم به ما و کافه مسلمین جهان‌توفیق‌عمل رابه مقضیات شرعی روزه وسائراحکام ارزشمنداسلامی عنایت‌فرموده وشریعت غرای اسلامی را در سراسر کره زمین حاکم ونافذ گرداند .

# پیام پوهاند سیاف صدراعظم حکومت

# اسلامی انتقالی افغانستان به مناسبت

# حلول عید سعید فطر

الحمد لله و صلوة والسلام علی رسول‌الله وعلی اله و صحبه ومن بهدیه اهتدی .

برادران گرانمایه' سنگرداران میدان پرخون جهاد افغانستان!

السلام‌علیکم‌ورحمت‌الله وبرکاته !

دعا میکنم نصرت ویاری خداوند بزرگ و توانا همیشه شامل حال تان بوده و پیروزیهای چشمگیر نصیب تان گردد . یقین دارم که جهادچندین سالهٔ شمامردم‌باشهامت افغانستان یکبار دیگر مجدوعظمت امت مسلمه را در سراسر جهان احیانموده است' باوجودمشکلات و تکالیفی که ما در راه جهاد با آن مواجه هستیم باز هم‌ثبات ' مردانگی واستقامت شما مجاهدین درتاریخ معاصر دنیا قابل تقدیرو تمجید است ' امیدوار هستم طوریکه عید های گذشتهٔ تانرا با پیکار وقربانی‌ومقاومت‌بی مانند در برابردشمنان اسلام‌استقبال کردهاید در این عید هم از میدانهای گرم جهاد فاصله نگرفته و یکبار دیگر این روز تانرا هم در ردیف‌سایر روزهای پر از رنج و محنت و فداکاری‌وایثارقراربدهید' مامطمئن هستیم که خداوند جلت عظمته اجر وپاداش شما را ضایع نمیسازد' چه دردنیا ' چه در آخرت عوضی که دلهای شما به آن مطمئن و چشمهای شمابه آن روشن گردد نصیب تان خواهد شد .

بلی ! عیدهای ماوشما مانندعید های گذشتهٔ پیش ازجهاد آنقدر با شادی‌وسرورهمراه‌نیست ' عیدهای دهات وقصبات ماخرابه ها'دودها گازها وویرانه‌ها را درآغوش‌خود دارد ' درین روز ها در کمپهای مهاجرین و در دهات وقریه های مجاهدین و مهاجرین جز از ینکه چشم انسان به پاهای قطع شده‌و دستهای بریده شده و گریبانهای دریده وموهای پراگنده و لبهای خشک ایتام ومساکین و معلولین جهاد دوخته شود منظر خوشاینده وفرحت آور دیگری پیشروی آدم قرار نمیگیرد ' یگانه مرجع فراراز دیدن این‌منظرهاویگانه‌جای که تا حدی چشم انسان برداشت آنرا دارد و روز های خود را دورتر از این‌غمها واندوهها بگذراندهما ناسنگرهای گرم‌وخونین جهاداست .

من به همهٔ سنگرداران‌میدانهای گرم وگلگون جهاد افغانستان توصیه میکنم که به پاسداری از سنگرهای خود دوام داده ومسئله عید وراحت ورخصتی‌ها راتاآنکه خداوند جلت عظمته پیروزی‌نهائی رانصیب شان میگرداند پشت سر گذاشته ودریادآن‌نشوند ' دراخیر درحالیکه من این عیدگلگون‌وعید سراسرپراز قربانی وایثاروفداکاری ورنج‌ومحنت‌ملت مجاهد افغانستان را به همهٔ مجاهدین و مسلمانان امت مسلمه تهنیت‌گفته دعامیکنیم که عیددیگررا خداوند(ج)درحالت استقبال پیروزیهای چشمگیری‌برما بازگرداند یکبار دیگر به صفت برادر همسنگر مجاهدین برایشان توصیه میکنم که به پیش‌به‌سوی کامیابی دنیا و آخرت با قدمهای استوارترومتین‌تر وبه امید نصرت ویاری خداوند بزرگ .

## • اعلان شوي عبوري حکومت په خپل ذات کښي یو پراخ بنسټي حکومت دي

## • مونږ د القدس شریف د آزادۍ لپاره ځوځواری د جهاد اعلان کړیدي

## • هندوستان باید خپل غلط دریځ زمونږ د حکومت په رسمیت پیژندلو سره تلافي کړي

د لاهور نه خپریدونکی د «زندگی» اونیزی اردو مجلې په خپلې وروستۍ گڼه کې د افغانستان د مجاهدینو د عبوری اسلامی حکومت له صدر اعظم محترم پوهاند سیاف سره مرکه کړیده چې مونږ د هغې ترجمه محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو .

**د عبوری حکومت له جوړیدو نه وروسته هم د نړۍ ځینی مشران د وسیع النبیاد حکومت نعری وهی پدی باب ستاسی دریځ څه دی ؟**

زما په فکر کوم حکومت چې مونږ جوړکړی دی هغه په خپل ذات کښې یو وسیع البنیا د حکومت دی ځکه چې پدی حکومت کښې هم علماء کرام او هم روشن فکران برخه وال دی او د ټولو طبقو څخه وزیران پکښې نیول شو یدی او په مختلفو جهتونو پورې اړوند نور وزیران به هم وټاکل شی . مونږ د ټولو هغو مخلصو مسلمانانو پرمخ ددی حکومت دروازی پرانستې دی چې غواړی د هیواد او ملت لپاره خدمت وکړی .

**څه موده مخکې یاسر عرفات پاکستان ته راغلی ؤ چې د مجاهدینو له مشرانو سره یې هم لیدلی ؤ ، و یل کیږی چې هغه هم د پراخ بنسټی حکومت پیشنهاد له ځان سره راوړی ؤ ایا تاسی و یلی شی چې له مجاهدینو سره د هغه د خبرو اترو نتیجه څه وه ؟**

له مجاهدینو سره د هغه اساسی خبری نه دی شوی ، هغه غوښتل چې له مجاهدینو سره وگوری چې د عبوری دولت رئیس پروفیسور صبغت الله مجددی او ځینو ملگرو وسره په هغی غرمنی میلمستیاکښې وکتل چې د پاکستان د صدراعظمې بینظیر بټو لخوا تیاره شوي وه او هغه په خپله هم حاضره وه یاسرعرفات صرف خپلی تجربی او خاطری یادولی نه داچې کوم پیشنهادیې راوړی ؤ .

**ایا دا صحیح ده چې څوکاله مخکې ستا او د یاسر عرفات ترمینځ په څه خبره باندی خفگان پیدا شوی ؤ چې لا تراوسه هم زړه بدی موجوده ده او د ځینو خلکو په فکر تا له همدی امله له هغه سره ونه کتل ؟**

په کومه ورځ چې مجاهدینو له هغه سره وکتل ، په هغه ورځ زه په خوست کښې وم او دکابینې د لومړی غونډی لپاره می تیاری نیوه ، بیاهم که څه غلط فهمی شو یده ، د هغه لخوا شو یده هغه زمونږ د داعیی هیڅ ملاتړ ونه کړ پداسی حال کښې چې مونږ د هغه د مبارزی ترشاه ولاړ یو او مونږ د القدس شریف د آزادی لپاره ځو ځو ځله د جهاد اعلان کړیدی په هرحال هیله من یو چې اوس به هغه زمونږ د جهاد په قدر او قیمت پوهید لی وی او په آینده کښې به زمونږ ترمینځ غلط فهمی نه پیښیری او په دی توگه به ددوستی دروازه له سره بیا پرانستل شی .




**انتخابات به په څه ډول وی ؟ ایا د یوسړی به یوه رایه وی اوکه کومه بله طریقه مو په نظر کښی ده ؟**

د انتخاباتو لپاره به ځینی شرایط وضع کیږی ، هغه شرایط چی اسلام د شوری لپاره وضع کړیدی ترڅو چی یوازی هغه کسان منتخب شی چی مخلص مسلمانان او د اسلام خدمتګاران وی .

**ستاسی د حکومت نظام به پارلمانی وی که صدارتی او که کوم بل ډول ؟**

د اسلامی حکومت نظام معلوم دی پارلمانی اوصدارتی پیوندونو ته ضرورت نه لری .

**په آینده کښی به ستاسی د حکومت نوم څه وی ؟**

راتلونکی منتخبه اسلامی شورا به اساسی قانون جوړ وی او په هغه کښی به د حکومت نوم هم مسمی کیږی .

**نر بیلا بیلو بیرغونو لاندی جنګیدونکو چریکو ډلو آینده به څنګه وی ، ایا د افغانستان په اردو کښی به ورته ځای ورکړل شی ؟**

همدغو چریکی ډلو زمونږ اسلامی انقلاب بری ته رسولی دی ، مونږ داسی پروګرام جوړ وو چی زمونږ ټول ستر قوماندانان له خپلو ډلو سره د افغانستان د وسله والو پوځونو سره یوځای شی البته داخبره فیصله شو یده چی که هغوی د تنظیمونو نه جلاشی نو هغوی به د افغانستان د راتلونکی پوځ صاحب منصبان اوعسکروی .

**ستاسی بهرنی سیاست به څه وی ؟**

مونږ به له ټولو اسلامی هیوادونو سره ښی اړیکی ولرو مونږ به د نړی له ټولو هغو هیوادونو سره چی زمونږ د آزادی او استقلال احترام کوی او زمونږ په کورنیو چارو کښی لاس نه وهی له هغو ټولو سره به د اسلامی اساساتو په رڼاکښی ښه روابط ټینګ کړو .

**له روسانو سره به په آینده کښی ستاسی اړیکی څنګه وی ؟**

که روسان د افغانستان په باب خپلی اوسنی پالیسی ته تغیر ورکړی د مزدور رژیم له ملاتړ نه لاس واخلی او دجنګی غرامت ګاللو ته غاړه کښیږدی نو کیدا شی چی بیا نه نوی سره ارتباطات ورسره برقرار کړو خو پدی کښی اساسی شرطدادی چی زمونږ د آزادی او استقلال احترام وشی .

**له هغو غیر افغانی مجاهدو زلمیانو په هکله چی دافغانستان له مجاهدینو سره اوږه په اوږه جنګیدلی دی څه وایاست ؟**

الله تعالی پرهغوی باندی ډیره لو یه پیرزو ینه کړیده د مجاهدینو په صف کښی دریدل په خپل ذات کښی ډیر لوی عزت دی ، هغوی خپله فریضه اداء کړه او دخدای لخوا دا مکافات ورکړل شو چی غازیان اوشهیدان شول .

**پوهاند سیاف ! کابل به په څومره وخت کښی فتح شه ؟**

زه په پوره باور سره و یلای شم چی انشاء الله مونږ به په څو هفتوکښی هلته په کابل کښی دننه اوسو .

**دافغانستان د جهاد په ملاتړ او مهاجر ینوته په پناه ورکولو سره پاکستان او ایران د قدر وړ خدمتونه کړیدی خو تراوسه یی د مجاهدینو په**

**عبوری حکومت باندی اعتراف نه دی کړی ، ایا دا مناسبه خبره ده ؟**

کیدای شی دا کار د څه وجوهاتو پر اساس وی خو زه فکر کوم اسلامی کنفرانس مونږ ته د غړیتوب د څوکی په راسپار لو سره پدی لاره کښی مثبت قدم اخیستی دی ، مونږ هیله من یو چی د پاکستان او ایران په شمول به ټول اسلامی هیوادونه ډیر ژر زمونږ عبوری حګومت په رسمیت و پیژنی . مونږ د نړی له ټولو هیوادونو څخه غوښتنه کوو چی د عبوری حکومت په رسمیت پیژندلو سره دافغانستان مسلمان ملت ته د هغه مشروع حق ورکړی . مونږ له ملګرو ملتو څخه هم همدغه غوښتنه کوو چی هلته هم د غړیتوب څوکی د افغانستان د ملت دغه ریښتونی نماینده حکومت ته وسپاری .

**د پاکستان د اوسنی حکومت سره ستاسی مناسبات څنګه دی او په آینده کښی به څنګه وی ؟**

د پاکستان د اوسنی حکومت سره هم زمونږ همغسی دوستانه مناسبات دی لکه څنګه چی د مخکنی حکومت سره وو ، د افغانستان په هکله د اوسنی حکومت په پالیسی کښی څه بدلون ندی راغلی .

**ځینی خلك وائی چی که شهید ضیاء الحق ژوندی وی نو د افغانستان دمجاهدینو د عبوری حکومت په رسمیت پیژندل به یوه ورځ هم نه ؤ ځنډیدلی ؟**

په دی شك نشته چی شهید ضیاء الحق د افغانستان جهاد ته د قدر وړ خدمت وکړ هغه ډیر زیات مخلص انسان ؤ هغه زمونږ قضیی ته ډیر کار وکړ او د افغانستان د مهاجرینو ډیر خوا خوږی ؤ خو زه چی پوهیږم اوسنی حکومت هم د افغانستان په باب همغه پالیسی تعقیبوی او زه هیله من یم چی زمونږ د حکومت په رسمیت پیژندلو په باره کښی به نور ځنډ نه راولی .

**د مجاهدینو او دافغانستان د جهاد په هکله د هندوستان په پالیسی او دهغه حکومت د حکومتی مقاماتو او مطبوعاتو د منفی تبصرو په ارتباط ستاسی نظر څه دی ؟**

د هندوستان د حکومت لپاره دا ډیر مناسب وخت دی چی د افغانستان د ملت په باب خپل پخوانی غلط دریځ پریږدی ، هغوی ته پکار دی چی د افغانستان له ریښتنو نماینده‌ګانو سره ښه روابط پیدا کړی او له وطن پلورونکی مزدور حکومت سره خپل روابط قطع کړی . د هغوی لپاره دا ښه فرصت دی چی زمونږ عبوری حکومت په رسمیت وپیژنی چی په دی ترتیب سره د هغوی پخوانی اشتباه تلافی کیدای شی .

**ځینی پاکستانی سیاستمداران وائی چی په افغانستان کښی مجاهدین د امریکا د ګټو پخاطر جنګیږی اودغه ډله خلك داغوښتنه هم کوی چی مهاجرین باید خپل وطن ته ستانه شی ؟**

تاسو پوهیږی چی پاکستان په مجموعی ډول له مونږ سره مرسته کوی له دی امله دپاکستان ملت زمونږ په زړونو کښی ځای لری مونږ د پاکستان د عوامو مینه او د حکومت ښه سلوك هیڅ کله نشو هیرولی ، د څو تنو یا دیو دو وړو وړو ګوندونو مخالفت زمونږ د وړور ګلوی پر اړیکو باندی څه اغیزه نشی کولای . . . . زه وایم چی دافغانستان له جهاد سره په دښمنی کولو سره هغوی له خپل ځان سره جفا کوی دهغوی دا دعوا که رښتیا وی چی له افغانو سره دوستی لری نو باید د مجاهدینو ملګرتیا وکړی چی د افغانستان ریښتونی نماینده‌ګان دی او دخپل هیواد او خپل ملت پخاطر یی له یونیم ملیون نه زیاتی قربانی ورکړی دی ، په هرحال زه هیله من یم چی دوی به خپل دغه دریځ چی نه د پاکستان په ګټه دی او نه د سیمی ، پریږدی او که بیاهم په خپل دریځ باندی ټینګار وکړی مونږ ته هیڅ زیان نشی رسولای او د هغوی د مذبوحانه هلو ځلو نتیجه به همغه راوځی کومه چی د کابل مزدورو کمونستانو

**غربی مطبوعات تا ته « بنیاد ګرا » او ددولت رئیس جناب صبغت الله مجددی ته « میانه رو » وائی ، ددی څه مطلب دی؟**

زه خو دا درجه بندی او دا نومونه ایښودل صحیح نه بولم ، زه د خپل ځان په باب و یلای شم چی زه یو مسلمان یم ، په خپل هیواد کښی د اسلامی شریعت نافذول غواړم ، ما د الله « ج » د کلیمی د لوړولو لپاره جهاد کړیدی او زما نهائی هدف دادی چی خپل هیواد آزاد کړم ، او په خپل هیواد کښی د اسلام پر بنسټ ولاړ یو حکومت او ټولنه جوړه کړم ، زه دغه یم هغوی چی هرڅه راته وائی ودی وائی .

**محترم استاد ! ځینی خلك داهم وائی چی ته وهابی یی او دا دلیل هم وړاندی کوی چی سعودی حکومت څکه ترټولو مخکی ستاحکومت په رسمیت وپیژانده چی هغوی هم وهابیان دی ؟**

زه تاسی ته په غوڅه توگه وایم چی زه دحنفی مذهب پیرو یم په افغانستان کښی د وهابی په نوم کوم مذهب او مسلك نشته . سعودی عربستان د لومړیو وختونو څخه په کلکه زمونږ د جهاد ملاتړ کړیدی او دا ملاتړ دافغانستان د ملت ملاتړ ؤنه د کومی خاصی ډلی ، اوس هم هغوی زمونږ حکومت د یو اسلامی حکومت په توگه په رسمیت پیژندلی دی نه د وهابی توب په عنوان ،

**عبوری موده به څومره وی او دائمی حکومت به په څه ډول جوړیږی ؟**

دائمی حکومت به د انتخاباتو له لاری جوړیږی د انتخاباتو کار تقریباً پیل شو یدی ، په راتلونکی پنځو میاشتو کښی به منتخبه شوری مینځ ته راشی او بیابه دغه منتخبه شوری دایمی حکومت ته د اعتماد رایه ورکړی که اوسنی عبوری حکومت د منتخبی شوری نه د اعتماد رایه واخیستله همدا به دائمی حکومت شی او د شوری د فیصلی سره سم به ترټاکلی مودی پوری پاتی شی اوکه نه نو شوری به بل حکومت انتخاب کړی .



**د ولس د متفقه رائی اخیستنی لپاره د لوئی جرگی جوړول په نظرکښی شته ؟**

اوس نور د لوئی جرگی نه ضرورت شته او نه گنجایش اوس زمونږ په وړاندی د شوری له موثری او جامع اداری نه پرته د بلی کومی اداری جوړولو تصمیم نشته . د لوئی جرگی مفکوره ډیره شاته پاتی شوی ده .

**دا اندیښنه څرگندیږی چی د مجاهدینو قوماندانان چی دبریالیتوب تر پړاوه پوری یی د وسله وال جهاد سنگر گرم ساتلی دی په آینده کښی به هم وسله پرمځکه کښینږدی ؟**

زمونږ دغی موضوع د حل لپاره یو پروگرام جوړ ؤد بیلا بیلو ډلو ، قوماندانانو او افرادو په باب به فیصله وشی چی څه ډول وسله دی له خلکو سره پریښودله شی اوڅه ډول وسله دی واخیستله شی او دا کار ددفاع وزارت وظیفه ده بیاهم ویلی شم چی که تنظیمونه په برحال پاتی کیدو باندی ټینگار وکړی هغوی د وسله والو ډلو په شکل کښی نه بلکی د سیاسی تنظیمونو په توگه به پاتی کیږی .

**ولی د جلال آباد فتحه دومره اوږده شوه ؟**

انشاء الله چی د جلال آباد فتحه به ډیره لیری نه وی پرجلال آباد باندی مجاهدینو سخت فشار اچولی دی ، د نجیب عسکر په هغو پخو مورچوکښی ناست دی چی له څو کلونو راهیسی یې جوړي کړیدی جنگی الوتکی ټانکونه او درندی وسلی یی په واك کښی دی ، ددغو پخو مورچلونو په ماتولو کښی به څه وخت ولگیږی خو بیاهم هیله من یم چی جلال آباد به په څو ورځو کښی دننه ونیول شی .

**د کابل له نیولو نه وروسته به تاسی له خپلو دښمنانو سره څه چلند وکړی ؟**

زمونږ عمومی عفوه اعلان کړیده ، پدی مرحله کښی چی هر څوك له مجاهدینو سره یوځای شی هغوی به معاف کړای شی ، د کابل له فتحی نه مخکی چی هرڅوك د پښیمانتیا څرگندونه وکړی پرهغه باندی به غرض نه کیږی او دهغه د حفاظت بشپړ ضمانت به ورکړل شی خو کوم کسان چی تروروستی فتحی پوری جنگ ته ادامه ورکړی برهغو باندی به د محکمی فیصله تطبیقیږی .

به قلم : قاضی نظرمحمد «نیازی»

# حکومت عبوری مجاهدین

به هیچ کس پوشیده نیست که روسها به منظور تصاحب بوطن اسلامی ما (افغانستا ن عزیز) تجاوز بی شرمانه که برخلاف تمام موازین انسانی وبین المللی بوده نمودند،آمدند وخرابیها کردند ، فسادکردند ، قتل های تما م نمودند ذخائر علمی ما را در دادند وعدهٔ خود فروخته بیدین و وطن فروش را براریکه قدرت نشاندند وخواستند به آن غلامان بی‌عرصه تمام امورات ماسپرده شود و در رأس ما قرار گیرند چنانچه آنها را آوردند و براریکه قد رت نشاندند وبرما تحمیلش کردند .

مسلمانهای ماجهت امتثال امر خداوند(ج) که می فرماید (وجاهدالکفاروالمنافقین وغلاظ علیهم) درهرگوشه وکنار مملکت قیام نمودند مقاومت کردندکشتند وکشته شدند روسها بنابر فلسفه پوچ ومیان تهی کمونیزم که پیروز ی انقلاب خود را تنها و تنها در قتل ، غارت فساد و خرابیها میدانند همه روزه بر مردم مسلمان ما ده هاتن بمب خانه خراب کن وآتشزار ریختند،موشک زدند واز استعمال گازها بر مردم بیچاره مادریغ نکردند خواستند آن مفکوره اسلامی را که در عروق و تاعمق دلهای مردم مانفوذ نموده بود از بین ببرند و تحریک اسلامی را که تازه به شگوفائی رسیده بود ازبیخ و بن برکنند اما کور خوانده بودند که پروردگا ر درین باره می فرماید(ایریدون لیطفؤا نور الله والله متم نوره ولو کره الکافرون) روسهاباتمام همفکران شان باآخرین توان و هرگونه تپ و تلاشهای شیطانی شان نتوانستند این مشعل فروزان توحید را خاموش سازند و یاخلل دران وارد کنند مسلمانان ما بااخذ الهام از آیه مبارکه(وان تعو دوانعد ولن تغنی عنکم فئتکم شیئاً ولو کثرت وان الله مع المومنین)به مقاومت خود افزودند کثر ت و ساز برگ جنگی روسها و هم پیمانان شان هیچ گونه فتوری در عز م شان وارد ساخته نتوانست سنگردا غ جهاد را داغتر ساختند.آری،این عا شقان راه خدا باوجود نداشتن وسایل وامکانات کافی بابدترین شرایط زندگی به‌منظور دفا ع ازعقیده اسلامی ودفع تجاوز درین مدت ده سال و چند ماه با نمرود زمان که شکست آن در مخیله‌کسی نمی گنجید پنجه نرم نموده به جهانیان خاصتاً به ماده‌پرستان ایکه همه چیز رادرماحول ماده بی روح وبی جان می بینند ثابت نمودندکه اسلحه مادی وکثرت افراد برایمان وپایمردی غلبه‌کرده نمی تواند آنها بی نبرده بودندکه هرگونه تلاشهای مذبوحانه شان در قلع و قمع این دین هیچ گونه اثری ندارد وی ازخود صاحبی دارد که می می فرماید(وانانحن نزلناالذکر وانا‌له لحافظون) خداوند این دین را فر ستاد تا بشر را از گمراهی و ذلت نجات داده انسان رابه مدارج اعلای انسانیت وتکامل‌راهنمائی کند که خودحامی ونگهبان آن است.سرگذشت حضرت ابراهیم (ع) برای پیروان امت محمد (ﷺ)بهترین مشعل راهی است.آن مرد مؤمن درحال بیکسی وتهی دستی اما با عشق سرشار ازایمان بانمرود زمان نمرودیکه از فرط غرورخارج ازساحه قدرت بشری‌دعوای‌الوهیت‌می‌کندعدهٔ رامی کشدوعده رازندانی‌میکندوکسی تاب‌مقاومت‌آنراندارد اما آن‌رادمردبزرگ‌به‌طریقهٔ‌نمرودخط بطلان می‌کشدوآنها

رابه یکتا پرستی دعوت می‌کنند وخدایان دروغین‌شان‌را که‌برای‌آن سرسجده می‌گذاشتند‌به اتکاء پروردگار‌بدون داشتن یار ویاور خورد وریزه می کند ومردانوار‌خودرا آمادۀ مقابله می سازد مشکلات می بیند وازان لذت‌می برد مسلمانا ن ماااین پیروا ن مکتب ابراهیمی روسها و ایادی شان را مردانه وار سرکوب و پوز مالی میدهند که همه مردمان نیکوسنج و حق بین میدانند که روسها آن روسیکه ابرقدرتش میدانستند سخت شکست خوردند رسواشدند درحال ذلت وسرافگنده‌گی خاک افغانستان را ترک گفتند اگر روسها برامد ن خود را برو ی عاطفۀ بشری طوریکه مدعی‌اند میدانندپس این همه بمباردمانها و فرستادن اسلحه مدرن به دست نشانده های شان در کابل حمایت شا ن از مشت منفور وبی پایه را چگونه توجیه می کنند این هم عاطفه بشری است که همه‌روزه هزاران بمب موشک و ده ها موشک اسکاد بر مرد م بیدفاع ما اززمین وآسمان می ریزدتمام‌رسانه های‌تبلیغاتی ودروغبافی آن درخدمت و پایداری رژیم منفور کابل قرار داشته میخواهند بذرا یع ممکنه درمیا ن مجاهدین ایجاد فتنه واختلاف‌کنند اما ازآنجا که خداوند می‌فرماید: والذین‌جاهدوافینالنهد ینهم‌سبلناوان‌الله‌لمع‌المحسنین-درین لحظات حساس که مسلمانان ما ازنداشتن اتحاد که‌یکی ازاسباب مهم کامیابی ما بوده رنج می بردند و اوضاع را مأیوسانه بررسی‌می‌کردند دستهای نیازرابدرگاه بی‌نیاز درنیمه شبهادرازمی نمودند پروردگار عالم براساس‌لطف خاصیکه به بنده های خود دارد چنانچه می فرماید :

ادعونی استجب لکم -دعای بنده‌گان مخلص‌خود را که توأم با آه وفریاد مادران داغدیده وناله و فریاد یتیمان بود باوجود تپ و تلاشهای بی اندازۀ دشمنان اسلامی که گاهی ازجابی و گاهی ازجای دیگری گاهی برنگی وگاهی برنگی دیگری سربدر می‌کردند(ویمکرون ویمکرالله والله خیرالماکرین)هم مکرهای دشمنان رانقش برآب نمودند حکومت موقت ماکه درواقع سمبول‌اتحاد اسلامی مابوده شورای مشورتی که مرکب از تذکیه شده‌گی ومطمئن ترین رجال تنظیم ها ی جهادی مابوده که درعملکرد وطرح شان هیچگونه غل و غش و حیله بازیها اقلاً تصور هم نمی شد بر اساس رأی گیری آزاد صورت گرفت نتیجتاً کسانی در رأس امور قرار گرفتند که دراصالت عقیدۀ اسلامی متانت، تواضع، ایثار، فداکاری جد وجهد شان در راه جهاد ازممتاز ترین شخصیت‌های مابوده و از اعتماد کامل مسلمانان ما برخوردار اند از همین جاست‌که مردم ما اعم ازعلماء،روحانیون،مجاهدین وتمام اقشار اسلامی مملکت ما همه روزه توسط نامه‌ها ابلاغیه ها را ازین حکومت نوبنیاد که عمرش از دوماه وچند روز تجاوز نمی‌کند وموفقیت های بزرگی رابدست آورد ه اعلا م میدار ند که شرعاً اطاعت ازین حکومت مطابق هدایت پروردگار:اطیعوالله‌و اطیعوالرسول واولی الامرمنکم-برهمه مسلمانان مالازم و یک تکلیف شرعی بوده عدم همکاری وبی تفاوتی درزمینه تخطی ازاوامر قرآن و همکاری غیر مستقیم به ایادی کفر خواهد بود آنهائیکه تحت تاثیر اوهام وخیانت پوچ حب جاه قرار گرفته خود را درخدمت این حکومت قرار دادن عارو تنزل میداند سخت در اشتباه بود ه که قرآنکریم چنین اشخاص رابه این عبارت:وان‌اعطوارضواوان لم‌یتعطواافاذا هم یسخطون - تعبیر می‌کندگویا اگر برای شان مطلوبه شان داده شد خوش وقت اند واگر مطلب شان‌برآورده نشد راه غضب وبیزاری رابه خود می‌گیرند امیدواریم همه برادران دست اتحاد ویکدلی راکه آرزوی دیرینه مابوده باهمدیگر داده وصمیمانه ازین حکومت پشتیبانی نمایند از هرنوع جاه طلبی وقدرت طلبی های بی ارزش دنیوی مطمح نظر شا ن قرار نگرفته تا باشد که کردار نیکوی شان سر مشق نسل‌های آینده گردیده وهم‌مرهم قلوب مردم بلاکشیدۀ ما گردید ه باشد .

# دافغانستان داسلامي انتقالي حکومت دکابيني

# دمحترمو غړو لنډه پيژندګلوي

د موضوع د اهميت او د درنو لوستونکو د مکررو غوښتنو په بنا د حق پاڅون اداری بالاخره تصميم ونيو چې بايد د افغانستان د مجاهدينو د اسلامي انتقالي حکومت د کابينې د محترمو غړو ژوند ليکونه (بيوګرافي) د تيری شماری په ادامه په کومې کې چه د عبوری دولت د رئيس محترم مجددي اوصدر اعظم محترم پوهاند سياف بيوګرافي نشر ته سپارل شويدي البته دا يو ټکې بايد په نظر کې ونيول شي چې پدې بيوګرافيو کې چې د مربوطه تنظيمونو لخوا ليکل شويدي پرته د لږ څه اختصار هيڅ ډول تصرف ندی شوی او هم دعکسونو دتکرار څخه چې په تيره ګڼه کې چاپ شوی وو ډډه شويده.

## محترم استاد رباني

د عبوری حکومت دبيا ابادولو دچارو وزير مجاهد ورور استاد برهان الدين رباني دبدخشان دنوميالي عالم اروابناد مولوی محمد يوسف زوی او له نن څخه پوره نه څلويښت کاله د مخه دفيض آباد په ښار کې زيږيدلی دی په ۱۳۳۸ کال کې د فيض اباد له ديني مدرسې څخه په اعلی درجه فارغ او په همدغه کال دکابل پوهنتون د شرعياتو په پوهنځی کې شامل شو چې په ۱۳۴۲ کال کې يې په ممتازه درجه د لسانس شهادتنامه تر لاسه کړه، او له دری کاله تدريس وروسته د عالي تحصيلاتو د ادامې او نړيوال اسلامي تحريک (اخوان المسلمين) سره د نژدې ارتباط ساتلو په منظور د مصر عربي جمهوريت ته ولاړ اوداالازهر په مشهور پوهنتون کې شامل شو او وی کولای شو چې د دوو کالو په موده کې د اسلامي فلسفې په څانګه کې دماستری سند تر ګوتې کړی، د همدغه کال (۱۳۴۷) په دوران کې ئې د دکتوراه د اخستلو پخاطر خپل نوم ثبت کړ تر څو د مولانا عبدالرحمن جامي د ژوند علمي او فلسفي اړخ و څيړی وطن ته له راستنيدو سره متصل يې د شرعياتو او ادبياتو په پوهنځيو کې تدريس ته د ادامې تر څنګ د شرعياتو د ژوری او اسلامي مجلې مسئوليت ئې هم په غاړه درلود.

استاد رباني د افغانستان د اسلامي تحريک د مشر شهيد پوهاند نيازی نبی لاس او د کدر رهبری اومرکزی شورای غړی وچې بالاخره په ۱۳۵۲ کال کې د افغانستان د اسلامي جمعيت د امير په توګه وټاکل شو.

محترم استاد په ډيرو ملي اوبين المللي کنفرانسونو کې د غړی او رئيس په توګه ګډون کړی اويو ګڼ شمير اسلامي او غربي هيوادونو ته ئې سفرونه کړی دی له انګليسي او اردو ژبوسره اشنا او د عربي ژبې بهترين ليکوال دی.

د داود د کودتا په دوهم کال دکنړ شونکړی له لياری ورور هيواد پاکستان ته رامهاجر شواو تير کال د کب دمياشتې په پنځمه نيټه دمشورتي شورای د انتخاباتو په نتيجه کې د عبوری حکومت د بيا ابادولو د وزير په توګه وټاکل شو.

## محترم انجینیر حکمتیار :

د عبوري حکومت د بهرنیو چارو وزیر مجاهد ورور انجینیر گلبدین حکمتیار د شهید حاجي عبدالقادر ځوی دی، د اسلامي انقلاب دا نومیالی بچی په ۱۳۲۷ کال کې د کندز ولایت دامام صاحب په ولسوالی کی زیږیدلی دی، په ۱۳۳۳ کال کې د امام صاحب په ابتدائیه ښوونځي کې شامل او په ۱۳۴۵ کال کې د شیرخان د لیسې څخه په اعلی درجه فارغ شو چې بیا د کانکور د عمومي ازموینې وروسته د کابل پوهنتون په انجینیري پوهنځي کې شامل شو، انجینیر حکمتیار په ۱۳۴۸ کال کې د اسلامي تحریک د یو فعاله، دردمند او بااحساسه غړي په صفت شهرت وموندلو پدی لیارکی یې ډیری تودی ترخی په ځان ومنلی خو د اصولو او مبدأ پخاطر هیڅ دول سازش اوزور ته تسلیم نشو، نوموړی دظاهرشاه د لاس پوځو لخوا د ۱۳۵۱ کال په دوران کې بندی او د یونیم کال لپاره د زندان د تورو تمبو تر شا داسلام او مسلمانانو په جرم محکوم شو. !!

د ۱۳۵۳ کال په اوږدو کې د تحریک مشرتابه پریکړه وکړه چې باید یو تعداد فعاله او د تحریک پیژندل شوي غړي باید سرحدي سیمو ته د د خلکو د پوره اگاهي او د داود دی بی دینه رژیم د ماهیت د څرگندولو په منظور سفرونه وکړي هماغه ؤ چې یو تعداد ورونه ددې کار لپاره وگمارل شول چې د هغوی له جملې څخه یو هم د ځوانو وینو او هیلو ښتن انجینیر حکمتیار ؤ چې دجنوبي ولایاتو مشري ورپه‌غاړه شوه، دابیا غلي په ۱۴۵۳ کې د افغانستان د اسلامي حزب د امیر په توگه وټاکل شو او په همدغه کال یې د جلاد داود په ضد د پنجشیر، لغمان ارگون او ننگرهار د عسکري عملیاتو مشري هم په غاړه درلوده نوموړی د کلک تصمیم او غښتلي ارادې مالک دی.

دوی د کمونستي نړۍ پرته د نړۍ ډیرو هیوادونو ته سفرونه کړي او په عربي، انگلیسي او اردو ژبو په اسانی سره خبری کولای شي ډیر کله د عسکري عملیاتو قومنده په لاس کې نیسي او د سیاست په ډگر کې ئې خورا ډیر شهرت موندلی دی.

د تیر کال د مشورتي شورا د انتخاباتو په نتیجه کې محترم حکمتیار د عبوري حکومت د بهرنیو چارو د وزیر په توگه وټاکل شو.

کې د لس کاله تعطیل وروسته د افغانستان په خالي ځوکی باندی د تکبیر د نعرو او د چک چکو په بدرگه کښیناست.

## محترم مولوي خالص :

د عبوري حکومت د کورنیو چارو وزیر محترم حافظ القرآن او مجاهد عالم مولوي محمد یونس خالص د مرحوم مولوي عبدالاکبر زوی دی چې په ۱۲۸۸ هـ ش کال کې د ننگرهار ولایت د خوگیانو د شیر زادو د قاضیانو په کلي کې زیږیدلی دی، لومړي تعلیمات یې د خپل پلار او ماما په وړاندې تر سره او پاتې زده‌کړې یې د افغانستان په نورو سیمو او دپاکستان په‌سرحدي ولایت کې تر سره کړیده.

محترم خالص د ۱۳۲۸ کال پوري په تدریس او خطابت بوخت او په ۱۳۳۰ هـ ش کې د تربیه افکار د غړي په توگه مقرر او له همدغه وخت څخه یې د سیاسي ژوند او چارو سره اشنایي پیداکړه.

نوموړي یو پیاوړی لیکوال او د څه موده لپاره د پیام حق اوورانگی د مجلو چلونکی ؤ او له راډیو څخه یې ډیری لیکنې او تفسیر ونه نشر ته سپارل شویدي.

دیني ملغلري، روح الاجتماع او دین اوانساني تمدن دده له مهمو آثارو څخه گڼل شو. کوم وخت چې په افغانستان کې اسلامي تحریک منځ ته راغی نو مولوي صاحب خالص هم پکې ورگډ شو او په پوره اخلاص یې پکې کار پیل کړ.

مولوي صاحب د جهادي امور د ښه تنظیم پخاطر په ۱۳۵۷ کال د حزب اسلامي په نوم یو جلا او مستقل تنظیم جوړ کړ، د جهاد په

يو لس کلنه موده کې يې وخت په وخت پخپله په وسله وال جهاد کې برخه اخيستې او د ثابت دريځ څښتن دی، ډيرو باندنيو ملکو ته ئې سفرونه کړي په عربي ژبې ښې خبرې کوي او شاعر هم دی د مشورتي شورای د انتخاباتو په پای کې د کورنيو چارو وزير په صفت وټاکل شو.

## محترم مولوي محمدي

د عبوري حکومت د دفاع وزير محترم مولوي صاحب محمد نبي «محمدي» د ارواښاد الحاج ملاعبدالوهاب زوی او په ۱۳۰۰ هش کې د لوګرو لايت د قلعه عباس په کلي کې زيږيدلی دی لومړني تحصيلات يې د خپل قدرمند پلار او تره څخه سرته ورسول او په ۱۳۱۵ کې يې د ديني علومو او فلسفي فنونو څخه فراغت حاصل کړ او په همدغه کال د موسهي دروحاني کورنۍ د داخيلو د اغا جان صاحب لخوا محترم محمدي ته د ارشاد اذن وشو او د طريقت د خلافت پګړی ور په سر شوه. نوموړی په ۱۳۴۸ کال کې د ولسي جرګې دديارلسمې دورې انتخابات وګټل او د پارلمان په انګړ کې ئې د کارمل او اناهيتا راتب زاد غوندې کمونستانو په ضد د لاس او ژبې مبارزه پيل کړه مولوي صاحب د سپين بولدک له لياري د تره کي د رژيم په لمړيو وختو نو کې را مهاجر شو او بيا وروسته يې د حرکت انقلابي اسلامي په نوم جهادي تنظيم جوړ کړ چې له هماغه وخته ترننه يې مشري په غاړه لري، نوموړی په عربي ښه پوهيږي او د اسلامي او غربي نړۍ خورا زياتو برخو ته يې رسمي او غير رسمي سفرونه کړيدي دی د مشورتي شورى د انتخاباتو په نتيجه کې دعبوري حکومت ددفاع دوزير په توګه وټاکل شو.

## محترم پير ګيلاني

د عبوري دولت دستري محکمې محترم رئيس پير سيد احمد ګيلانی د جناب سيدحسن ګيلاني (نقيب صاحب) زوی شپږ پنځوس کاله پخوا (۱۹۳۳م) کې د کابل په ولايت کې زيږيدلی دی ښاغلی ګيلانی صاحب په ۱۹۶۰ م کې د ابوحنيفې د عالي مدرسې څخه فارغ او د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي کښې شامل شو، محترم پير صاحب د ۱۹۶۵ کال را پديخوا د خپل مشر ورور له وفات وروسته د طريقت سلسله په غاړه لري او د هيواد په لر او بر کې ورته خلک ژور احترام لري. د کمونستانو له کودتا وروسته نوموړي خپل مريدان او عقيدتمندان وسله وال جهاد ته وهخول او دهغوی په تنظيم او انسجام کې يې د قدر وړ خدمتونه ترسره کړي او ادامه لري.

دوي د ۱۹۷۹ کال د مارچ په مياشت کې د محاذ ملي اسلامي بنسټ کيښود، په عربي او انګليسي ژبو خبرې کوي او په پراخه تنده اومعتدل مزاج شهرت لري.

ګڼ شمير هيوادونو ته يې په وار وار سفرونه تر سره کړي او له سياسي مسائلو سره له ډير پخوا څخه اشنا دی، د مشورتي شورى د انتخاباتو په نتيجه کې چې د کب د مياشتې په پنځمه نيټه تر سره شو د سترې محکمې د رياست دنده ورته وسپارل شوه.

## محترم انجنير احمدشاه

د عبوري حکومت د مخابراتو وزير مجاهد ورور انجنيراحمد شاه احمدزی د ارواښاد دولت خان زوی له نن څخه ۴۶ کاله پخوا د کابل ولايت د بګراميو د ولسوالي د ملنګ په سيمه کې زيږيدلی دی، ابتدائيه ښوونځی يې په خورد کابل متوسطه يې په ابن سينا او د ليسې دوره يې په تخنيک ثانوي کې په ممتازه درجه پای ته پای ته رسولی ده.

په ۱۳۴۶ کال کې د کابل پوهنتون د انجنيرۍ له پوهنځي څخه فارغ شو او داوبو او کرهنې په وزارت کې له دری کاله ماموريت وروسته په ۱۳۵۱ کال کې امريکا ته د عالي تحصيلاتو پخاطر واستول شو او د اوبو او بندونو په څانګه کې يې د ماسترۍ شهادت نامه

واخیسته د دکتورا لپاره ئې دخپل نوم
دپېتولووروسته سعو د ی عربستان ته
ولاړ او د ملک فیصل پـه پوهنتو ن
یې د تدریس دنده په غاړه و اخیسته
نوموړی تیر کال د لومړي ځل لپاره
د اسلامي عبوري دولت او حکومت
د رئیس په توګه و ټاکل شو چې بیا
دغه موده پای ته ورسیده. د ۱۳٤۰
کال راپدېخوا د اسلامي تحریک یو
فعاله غړ ی او د صبر ، تحمـل او
تقوی‌سمبول‌دی له دیرشو کالوراهیسی
د عبوري حکومت دصدراعظم‌پوهاند
سیاف کلک ملګری اوداتحاد اسلامي
دتنظیم معاون دی، په‌عربي‌اوانګلیسي
په اساني سره لیک، لوست او بیا نیـه
ورکوي ، هند ته د علاج پخاطر د
شهیدنیازي د لاري ملګری اوپه‌امریکا
کې د محصلینو د اتحادیې مهم مشر
ؤ ، د مشورتي شوری د انتخاباتوپه
نتیجه کې د مخابراتو دوزیر په‌توګه
وټاکل شو .

## محترم قاضي نجي الله

دعبوري حکومت د عدلیې‌وزیرمحترم
ورور قاضي نجي‌الله د محترم مولوی
عطاءالله‌زوی دی، دری ځلوېښت کلن
قاضي صاحب د غز نی د اندړ و په
ښیرقلعه کې پیدا شوی او پلارنی د
قرآنکریم حافظ او د عز ت څښتن ؤ
دوی متوسطه په دارالعلوم عربي او
ثانوی دوره‌دابوحنیفې په عالي‌مدرسه
کې پای ته ورسوله.
په ۱۳۵۱ کال کې دکابل دشرعیاتو
له پوهنځي څخه په ممتازه درجه‌فارغ
او همدلته یکې اسستانت ( مرستیال
استاذ ) مقرر شو له شهید عبدالرحیم
نیازي سره یې نژدې اړیکې‌درلودې
او د زابل او غزني په ولایتونو کې
د تنظیم او دعوت‌کارونه ورته سپارل
شوي وو .
په ۱۳۵٤ کال کې‌یې‌دداو د د ظلم له
لاسه وطن پریښودو ته مجبور شواو
کویټ‌ته‌ولاړ اوله ۱۳۵٦ کال راهیسی
په هغه هیواد کې د حزب اسلامي
( حکمتیار ) نماینده ؤ په ۱۳٦٦ کال
کې له هغه ځایه راوغوښتل شو او د
حز ب اسلامي د اجرایه شورئ لخوا
د هغه تنظیم د سیاسي او بیا تعلیم‌او
تربیې‌دکمیټو درئیس په‌صفت‌وټاکل‌شو
چې بالا خره د مشو رتي شو ر ی د
انتخاباتو په نتیجه کې چې د تیر کال
په‌پای‌کې‌ترسره شول دعبوري‌حکومت
دعدلیې‌وزیرپه‌توګه معرفي شو.

## محترم داکترلفرائي :

د عبوري حکومت د دعوت اوارشاد
وزیر محترم ډاکتر لفرائي د ښاغلي
حاجي نورالله زوی په ۱۳۲۷ کال کې
په کابل کې زیږ یدلی دی چې پلار
نیکه یې د لفرائي د منطقې څخه‌چې
د غور او با د غیس تر منځ پرته ده
کابل ته راغلي وو .
محترم ډاکترصاحب ځلوېښت کاله
وراندې د کابل د حبیبې څخه فارغ
شو او په ۱۳٤۹ کال‌کې یې دکابل
د حقوقو د پوهنځي څخه د حقوقو
له دیپارتمنت څخه لیسانس واخست.
په ۱۳۵۲ کال‌کې د امریکادهاوائي
جزیری ته‌ولاړ او د ماستری دکتوراه
شهادتنامې یې دهغه ځای له‌پوهنتون
څخه تر لاسه کړی او پاکستان ته
راستون شو، دا ښاغلی له ۱۳٦۵ کال
راهیسې د جمعیت اسلامي افغانستان
د سیاسي کمیټې مشری په غاړه لري
دنیکو اخلاقو خاوند او نر م طبیعت
مالک دی‌نوموړی د هاوائي داسلامي
مرکز یو فعاله غړی اومرکز دمجلې
مسئول مدیر او بیا د مالیې مسئول‌ؤ
د مشررتي‌شوری د انتخاباتو په‌نتیجه
کې د دعوت‌او ارشاد د وزارت‌چارې
دوی ته ورسپارل شوی دی.

## محترم استاد انصاري

د عبو ر ی حکومت دسرحداتومحترم
وزیر استاد علي انصاري دوه‌څلویښت
کاله د مخه د لوګرولایت دپادخواب
روغني‌په‌سیمه‌کې زیږیدلی دی، ابتدائیه
ښوونځی یې په خپل کلي کې لوستې
او په ۱۳٤۷ کال د برکي برک د
غازي امین الله د لیسې څخه فارغ‌شو
چې‌یوکال وروسته د کابل پوهنتون‌د
حقوقوداو سیاسي علومو په پوهنځي
کې شامل او د داود د کـو د تا په
لومړي کال له همدغه پوهنځي‌څخه
یې لیسانس واخیست .
له همدغه وخته د تره‌کي د کودتا
پوري یې د معلمي سپېڅلي وظیفه په
غاړه درلوده او د ځوانانو په‌اسلامي
روزنه اوتربیه‌کې‌ئې مهم رول‌لوبولی

او د ۱۳٤۸ را پد یخوا د اسلامی تحر یک سره نـژ د ی پا ٔتـی شـو ی اوپدی لیارکی یی ډیری منډی ترړی تر سره کړیدی.

په۱۳۵۷ کال کی مهاجر شو اودحزب اسلامی د مختلو کمیټو د ریاست چارې یې په مخ بیولی او دمشورتی شوری د انتخاباتو په نتیجه کې دسرحداتو دوزیرپه توگه و تاکل شو.

## محترم مولوی فضلی

د عبوری حکومت د ساینس اوعلمی څیړنو محترم وزیر مولو یصا حب محمدشاه فضلی دفضلی شاه زوی او په عمر دری پنځوس کلن دی چی په ۱۳۱۵ کال کی د پکتیا د ارگون د مفتی په کلی کی زیږیدلی دی .

فضلی صاحب څوارلس کاله د معقولو او منقولو دینی علومو پەزده کړه بوخت ؤ او وروسته ئی دیارلس کاله د همدغو علومو تدریس په غاړه درلود .

په ۱۳٤۹ کال کی یی د کمو نستانو پـه ضد د ار گون د مربوطه علاقو غیرتی او مسلمان خلک رهبری کړل او هم یی د تره کی د ملحد رژیم په ضد شرعی فتوی صادره اوپه وسله وال جهاد گوتی پوری کړی .

په ۱۳٦۰ کال کی د حرکت انقلاب اسلامی دمرسیال په توگه وتاکل شو.

د یادونی وړ ده چی د تیر کال په په منحل شو ی عبوری حکومت کی د حکومت د رئیس د معاون په توگه تعیین شوی وو .

په عربی ژبه پوهیږي او څینی اسلامی او لویدیځو هیوادونو ته یی رسمی او شخصی سفرونه کړیدی .

د مشورتی شوری د انتخابا تو په نتیجه کې د عـبوری حکومت د علمی څیړنو د وزیر په توگه تعیین شـو .

## محترم امین ارسلا :

دعبوری حکومت دمالیی وزیرهدایت الله امین ارسلا په ۱۳۲۰ ه ش کال کی په کابل کی زیږیدلی دی لومړنی او ثانوی تحصیلا ت یی دکابل په ښـار اولیسانس، ماستری اودکتورایی دسیاسی او اقتصادی علومو پەڅـا نگـو کی د امریکا پەمتحده ایالاتو کی تـر لا سـه کړیدی .

نومـوړی یو اقتصاد پوه اوپه نړیوال بانک کی اتلس کلنه تجربه لری اوددغه بانک دځینو مربوطه مؤسسو مسؤلیت ئی په غاړه درلود .

ښاغلی امین ارسلا دمحاذملی اسلامی غړی اوپه ډیرو ختیځواولویدیځو ژبو باندی پوهیږی اودنړی ځوراډیروزیاتو هیوادونو تۀ یی پر ته لەرسمی سفرونو خصوصی اوځانگړی سفرونەهم کړی دی

د مشورتی شوری دانتخاباتو پەنتیجه کی محترم امین ارسلا ٔدعبوری حکومت دمالیی دوزیر په توگه وتاکل شو .

## محترم خرم :

دعبوری حکومت دعامی روغتیا وزیر محترم سید نادر خرم دمرحوم نوراحمد خان زوی دی چی دوەپنځوس کاله دمخه دبغلان ولایت داندراب په ولسوا لی کی زیږدلی دی .

کله چی په ۱۳۳٦ کال کی دعامی اداری څخه فاروغ شو نو دهرمندپەلوی ریاست کی په مدیریت مامـورین کـی مقرر شو په ۱۳٤۰ کال کی دمکلفیت ددوری له تیریدو وروسته د کندزپـه سپین زر شرکت کی دمدیرخد مات په صفت مقررشوچی بیاوروسته پەهمدغه شرکث کی پەکال(۱۳۵۲)کی داداری

دعمومی مدیرپه صفت اویو کال وروسته درياست دکفیل په صفت وتاکل شـو دتره کی دکودتا په لمړیوو ختو کی د کمونستانو لخوا په یوویشت میاشتو بند باندی محکوم شو او په ۱۳٦۰ کال کی پاکستان ته رامهاجر شو .

ښاغلی خرم یو تکړه لیکوال اودڅه وخت لپاره دجبهه نجات ملی افغانستان (دجبهه جهاد )دجریدی مسؤل مدیر ؤ نوموړی دجبهه نجات ملی غـړی اوذ خپل تنظیم ددارالانشأ ٔمسؤل دی .

دتیر کال دمشورتی شوری دانتخاباتو په نتیجه کی ددولت د محترم رئیس حضرت مجددی لخوا دعا می ر و غتیا دوزیر په توگه معرفی شو .

د افغانستان د اسلامی انتقالی حکومت د مخابراتو وزیر مجاهد و ر و ر ا نجنیر احمدشاه احمد زی لاهور ته دخپل وروستی سفر پهدوران کښې دپاکستان‌مشهوری ورځپانې نوای وقت د مطبوعاتی تیم سره د ورځ په ورځ بدلیدونکی سیاسی او پوځی وضعی په ارتباط مرکه کړیده چی د حق پاځو ن د قدر منو لوستونکو د خبرتیا او معلوماتو پخاطر یی خلاصه په لاندی توگه نشرته سپارل کیږی.



# مونږ داصولو او مبدأ څښتنان یو چی له اسلامی حکومت څخه پر ته په بل هیڅ شی نشو قانع کیدلای

نوای وقت : دجلال آباددجنگ روانه مرحله څرنگه څیږی ؟

ځواب : د لوی خدای د غیبی مرستی او دمجاهدینو د بی دریغه قربانیو په نتیجه کښې اوس د جلال آباد فتح بالکل نژدی ښکاری ، د ښمن په ډیره یوه کوچنی ساحه کښې راگیر اوټولی ځمکنی لیاری یی په مخ تړلی شوی دی . اومجاهدین ورځ په ورځ دښارخواته‌نژدی کیږی ، باید له یاده ونه باسو چی روسانو او دهغوی افغانی‌لاس پوځو د تیرو یولسو کالو په موده کښې د ښار په څلورو واړو خواوکی دفاعی خندقونه جوړکړی او روسانو ورته ډیری مدرنی وسلی پریښې او دغه‌لړی اوس هم جریان لری ، ولی یواځنی مشکل چی زمونږ د غوځی فتحی مخه نیسی هغه د بی گناه ښاریانودژوند سوال دی ځکه د وچ او لوند او تور او سپین فرق‌نه کول تنها او تنها دوحشی روسانو صفت‌دی اوبس.

نوای وقت : پدی جنگ کښې د هندوانو د گډو ن خبره تر کومه ځایه حقیقت لری ؟

ځواب : داخبره بالکل صحت لری چی د هند پنځوس پیلوټان او شپږ سوه فنی پرسونل او مشاورین د کابل دړژیم‌سره جوخت د مجاهدینو په ضدفعالیت کوی اوهم د رژیم د جنگی مشتونو سر پر ستی او نگرانی کو ی و لی مونږ پوره باوری یو چی دوی به هم پخپلوشومو اهدافو کښې کامیاب نشی .

نوای‌وقت : غواړویوځل بیاوپوښتوچی‌دجلال‌آبادجنگ و لی اوږد شواو آیا داحمله‌په‌منا سب‌وخت‌کښې‌پیل‌شوه؟

ځواب : نه پوهیږم چی غربی ډنډورچیان و لی د ی د جنگ ته دومره اهتمام کوی، پداسی حال کښې چی

د نورو و لایاتو له جنګی عملیا تو سره داجنګ هیڅ توپیر نلری ، ما مخکی اشاره وکړه چی د دغه ښار د محاصره شوو ښاریانو د بی ځایه تلفاتو د مخ نیوی په خاطر مونږ د احتیاط څخه کار اخلو ، مونږدننګرهار د ولایت ټولی زراعتی او استرا تیژیکی نقطی پخپل کنټرول کښی لرو او له دری څلور کیلو مترمربع‌سیمی پرته ټول ولایت زمونږ په لاس‌کښی دی میدان‌هوایی دهوایی چارچلندپه‌مخ بالکل تړل شوی او له څلو ر و واړوخواوو څخه په منظم او محتاط ډول عملیات‌جریان لری او وضع دمجاهدینو په نفع ده .

نوای وقت : دپا کستان د موجوده حکومت او ستاسی د قضیی په ارتباط د هغوی د پالیسی په هکله مو څه نظر دی ؟

ځواب : زمونږ روابط ډیر دوستانه او نیک دی تر کومه ځایه چی زمونږ د انتقالی حکومت د رسمیت پیژندلو خبره ده مونږ هم نه پوهیږو چی پدی کی د تأخیر څه وجه ده ؟ مونږ هیله کوله چی پا کستان به له هرچا د مخه دغه حکومت په رسمیت وپیژنی خوتر اوسه دی کار صورت ندی نیولی .

ولی مونږ په ملګرو ملتونو کی داسلامی کنفرانس په څیرد مجاهدینوانتقالی حکومت ته دافغانستان دڅوکی دسپارلوپه ارتباط د صاحب زاده یعقوب خان کوښښونه سود مند بولو اوبیاهم‌هیله من یوچی زمونږ حکومت په نژدی‌وخت کی‌په‌رسمیت‌سره وپیژنی .

نوای‌وقت: څه‌فکرکوی‌که چیری‌شهیدضیاء الحق ژوندی ولی‌نوستاسی‌حکومت به‌یی‌ډیرژرپه رسمیت‌نه‌وی‌پیژندلی؟

ځواب : هوکی ممکن دغه کار ترسره شوی وائی و لی دا هم یوه ښکاره خبره دی چی په دوو انسانانو دوو ډلو او دوو سیاسی ګوندنو کی حتماً فرق دی ولی ددی هرڅه سره سره د پا کستان فعلی حکومت څمونږ د قضیی ملاتړی او خوا خوږی دی ، او همدا رنګه د پا کستان مسلمان او ورور ملت څمونږ دداعیی کلک مرستندویه دی .

نوای وقت : ویل کیږی چی امریکا غواړی له مجاهدینو سره پا تی ستمګر را کتوونه بیرته ترلاسه کړی ایاتاسوپدی هکله څه ویل غواړی ؟

ځواب : تر اوسه نه امریکا له مونږ سره پدی رابطه کوم تماس نیولی او نه مونږ دامریکا سره دوسلی په را کړه ور کړه کی کوم مستقیم ارتباط لرو ، ولی باید و وایم چی اوس هم له مجا هدینو سره یو اندازه نوموړی را کټونه موجود دی .

نوای وقت : ستاسو دقضیی دیو مخالف پا کستان سیاستمدار د هغو لیکونو په هکله چی دیوشمیر هیوادونو مشرانو ته یی لیږلی ؤ څه تبصره کوی ؟

ځواب : مونږ ډیر افسوس کوو چی د کابل د مزدور رژیم د بایښت او حمایت په منظور یوی خاصی ډلی دلته او هلته پدغو نارو سوروپیل کړی دی ښه به داوه چی دغو حلقو ددی ملت دریښتنو نمایند ګانو سره غوږونه نژدی کړی ؤ ، څکه مجاهدین اوس په ملی او بین المللی او پوځی او سیاسی ډګر یو منل شوی قوت دی چی هیڅ څوک ورڅخه سترګی نشی پټولای . که دغه خلک ریښتیا د افغانانو خواخوږی وی او دوینو بندیدل غواړی نو بیادی په کابل کی د کمونستو ګوډا ګیانو له حمائی اودفاع څخه لاس واخلی او دنورو پا کستان ورونو غوندی دریځ دی غوره کړی .

نوای وقت : نوستاسو د مسألی‌دحل لاره څه ده ؟

ځواب : څمونږ د مسألی حل یوازی او یوازی وسله وال اسلامی جهاد دی او بس ، مونږ د اصولو او مبدأ څښتنان یو او داسلامی حکومت له جوړیدو پرته په بل‌هیڅ شی‌قانع کیدلای نشو،مونږ مظلوم یو او د ظالم پخلاف توره پور ته کول او د کفر او فتنی ختمول څمونږ شرعی او اسلامی وجیبه ده .

در ین شمارۀ مجلۀ حق پاځو ن با محترم داکتر نجیب الله لفرا یی وزیر دعو ت وار شا د حکو مت اسلا می انتقا لی افغا نستا ن د ررا بطه با کا رهای این وزارت گفت وشنو د ی صورت گرفته که توجه خوانند گان محترم مجلۀ حق پا ځو ن رابه آن معطوف میداریم : (اداره)

# کمیته هاي فرهنگي تنظیم ها درچوکات همان قانون کاروفعالیت خواهند داشت که ازطرف وزارت دعوت وارشاد ترتیب ونافذ مي شود

## داکترنجیب الله (لفرائي)



وزیر دعوتو ارشادحکومت اسلامی انتقالی درجواب این سوال نمایندۀ مجلۀ ما که کار های مربوط به این وزارت تا چه حد پیش رفته است چنین گفتند : تشکیل وزارت ساخته شده و ازطرف مجلس وزراء نیز تصویب شده است درقسمت رئسای وزارت باید گفت که لـ تی از یک تعداد برادران تهیه شده و بعد از تقدیم کردن به مجلس درمورد تقررشان در ریاست‌های مختلف تصامیم لازم اتخاذ خوا هد شد .

از محترم داکتر لفرایی پرسیده شدکه کمیته‌های فرهنگی تنظیم های جهادی چه زمانی درچوکات دعوت و ارشاد شروع به کار خواهند کرد ایشان در جواب گفتند پروگرامی که فعلاً روی دست گرفته ایم آنست

تا وزارت دعوت و ارشاد ازخود نشرات داشته باشد و در مرحلهٔ اول به زبانهای دری وپشتو نشر واشاعه یابد داکتر لفرایی اضافه کردکه کمیته های فرهنگی تنظیم‌ها موازی‌به‌این نشرات به فعالیت های خود ادامه‌خواهند داد و اگر خواسته باشند تا فعالیت خودرا در چوکات وزارت دعوت و ارشاد مربوط بسازند درین موردکدام مانعی وجود ندادر البته باید گفت که قانونی از طرف وزارت‌دعوت وارشاد ترتیب‌ونافذخواهد شد وکمیته‌های فرهنگی تنظیم ها درچوکات همان قانون کار و فعالیت خواهند داشت در قسمت شرایط توظیف ما مو رین در وزارت دعوت و ارشاد محترم داکتر لفرایی گفتند که وزارت دعوت و ارشاد وسایر وزارت خانه‌های حکومت مجلس اداری متشکل از رئسای مربو ط تشکیل میشود و در مورد تقرر مامورین به رأی و مشوره می‌پردازند در شوری حد اقل یک نفر از هر تنظیم باید موجود باشد و درمورد تعیین و تقرر مامورین به بحث‌وگفتگو باید بپردازد و تصامیمی در مورد بگیرند در پهلوی‌آن خود وزیر میتواند از تنظیم خود و یا از سایر تنظیم‌ها نظربه صوابدید وشرایط مامورین را انتخاب ومقررنمایند

از وزیر دعوت و ارشاد پرسیده شد که برای انسجام امور فرهنگی درداخل کشورکدام‌پروگرامی مدنظرگرفته شده ویاخیر وی درجواب گفتند :

تا هنوز در مراحل ابتدایی قرارداریم و طوریکه‌لازم است کارهای مربوطه ما پیش نرفته و بعد ازخلاصی از کار های مقد ما تی در مورد تو جه و اقدامی صو رت خواهد گرفت .

نمایندهٔ مجلهٔ حق پاخون ازداکتر لفرایی پرسیدند که آیا در نظر دارید تا هیئت ها ی فرهنگی تـا نر ا به کشورهای عربی ، غربی و یا سایر ممـالک بفرستید ایشان در جواب این سوال چنین گفتند : در نظر است تا وفد های از ریاست تنویر و تبلیغ وقتاً فوقتاً به این کشورها فرستاده شود همچنین هیأتی مطبوعا تی شا مل خبر نگار وعکاس با هیئت رسمی ایکه ازطرف‌حکومت به خارج سفرمینمایند اعزام خواهدشد .

داکتر لفرایی در مورد سفر خود بداخل کشور که چندی قبل صورت گرفته‌بود گفتند : من شامل‌هیأتی بودم که از طرف مجلس وزرأبرای تعیین‌مرکزحکومت بداخل افغانسان انتخاب شده بود - محترم استادسیاف محترم‌علی انصاری و محترم‌داکتر فاروق اعظم اعضای این هیئت بودند مادوسفر رابه‌دو نقطهٔ مختلف افغانستان انجام دادیم و منطقه را از نزدیک مطالعه و ملاحظه کر دیم ونظر خو د را یاد داشت و به مجلس و ز ر أ تقد یم کر د یم .

محترم نجیب‌الله لفرایی در پایا ن مصا حبهٔ خود در مورد این سوال نمایندهٔ مجله که تا کنو ن در ساحهٔ نظا می وسیاسی‌چه موفقیتی نصیب حکومت‌انتقالی‌اسلامی شد ه است چنین گفتند :

در سا حهٔ نظامی هنوز کار به شکل منظم ازطرف حکومت اسلامی انتقالی‌افغانستان‌آغاز شده‌است‌وهمچنان‌در ساحه سیاسی فعالیت های چشم گیر ی صور ت گرفته و نتا یجی مفیدی نیزبه‌بارآورده است .

وی‌گفت چهارکشور جهان دولت انتقالی افغانستان را به رسمیت شناخته‌وکرسی‌افغانستان‌درسازمان‌کشورهای اسلا می به حکومت اسلامـی افغانستا ن سپرده شد و همچنان ازطرف وزارت خارجه حکومت برای شنا سا یی بیشتر حکو مت فعالیت های هنوز هم در جریا ن است وامیدواریم که درآینده نز د یک بسیا ر ی از کشور ها حکومت ما رابه‌رسمیت بشناسند .

# منافقت دکمونستانو کړنلاره

الله تعالی د سورهٔ بقره له (۸) نه تر (۱۵) لمبر آیت پورې د هغو انسانانو حال بیانوي چې په زړه کښې یې له رسول الله (ﷺ)، اسلام او مسلمانانو سره کلکه دښمني وه او ټولې هلې ځلې یې پدې منظور کولې چې دخدای دین او دخدای ددین پیروان مغلوب بلکې نشت او نابود شي خو په ظاهره یې د مؤمنانو د غولونې لپاره دایمان دعوه کوله او ځانونه یې دمسلمانانو خواخوږي معرفي کول .

د آیتونو ترجمه داده چې :

« ځینې کسان وائي چې مونږ پر الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړیدی پداسې حال کښې چې په حقیقت کې هغوی مؤمنان ندي ، هغوی له الله او مؤمنانو سره غولونه را اخیستي ده، خو په اصل کښې هغوی پخپله خپل ځانونه غولوي اوله هغوی سره ددې خبرې شعور نشته، دهغوی په زړونو کښې یوه ناروغي ده چې الله تعالی هغه لاپسې زیاته کړه او کوم دروغ چې هغوی وائي دهغه په بدله کښې ورته دردونکې عذاب ټاکل شوی دی . کله چې ورته وویل شول چې په ځمکه کښې فساد مکوی نوهغوی وویل : مونږ داصلاحاتو راوستونکي یو - پام ولرې ! په حقیقت همدوی فساد کوونکي دي خو شعور ورسره نشته .

او کله چې ورته وویل شول چې نوروخلکو چې څنګه ایمان راوړیدی تاسې هم همغسې ایمان راوړی نوهغوی په ځواب کښې وویل : آیا مونږ د ناپوهانو غوندې ایمان راوړو ؟ پام ولرې ! په حقیقت کښې همدوی ناپوهان دي خو (پخپلې ناپوهۍ باندې) نه پوهیږي . کله چې دوی له مؤمنانو سره یو ځای شي نووائي چې مونږ ایمان راوړیدی او کله چې په ګوښه ځای کښې له خپلو شیطانانو سره یو ځای شي نوورته وائي په اصل کښې خو مونږ لتاسې سره یو او په دې خلکو پورې مسخرې کوو - الله په دوی پورې مسخرې کوي او د دوی د غړوندې رسۍ اوږدوي او دوی پخپله سرکشۍ کښې د ړندو په شان تیندکونه خوري » .

د کابل د پیدینه کمونستانو عقیدې عمل او وینا ته که نظر وشي نو کټ مټ همدغه آیتونه ورباندې تطبیقیږي پدې خبره کښې اوس د هیڅ شک ندی پاتې چې کمونستان کافران دي داسې کافران چې نه خدای مني ، نه پیغمبر مني ، نه آخرت مني او نه قرآنکریم بلکې د ایمان تګلاره او د مؤمنانو عقیده لیونتوب ګڼي اومذهب ته د ملتونو افیون وائي خوڅنګه یې چې له یوې خوا په فکري او ایدیولوژیکي لحاظ او له بلې خوا په نظامي لحاظ او د جنګ په میدان کښې دمسلمانانو په مقابل کښې ماتې وخوړله نو اوس یې د رسول الله (ﷺ) د عصر د منافقانو په څیر د منافقت د حربې په استعمال لاس پورې کړیدی چې ګوندې د اسلام او ایمان په تظاهر سره به مسلمانان وغولوي خو د مسلمانانو د عظیم الشان لارښود قرآنکریم د دوی ددروغو او منافقت پرده څیروی اوفرمائي چې : دوې مؤمنان ندي - دوی پخپلو غوړو او پستوخبروسره مسلمانان نشي تیرویستلی بلکې خپل ځانونه غولوي دوی دمنافقت دغه حربه استعمالول د ځان په ګټه بولي حال دا چې دا د دوی قلبي ناروغي ده او الله تعالی د یوڅه وخت نور مهلت په ورکولو سره د دوی دغه ناروغي لاپسې اوږدوي چې عاقبت به له رسوائي اودردونکي عذاب سره مخامخ کیږي .

دوې که په ریښتیاسره مؤمنان وي نوبیا یې له مومنانو سره جنګ د څه لپاره دی، ولې ځانونه هغومومنانو ته نه تسلیموي چې هغوی دایولس کاله

د درندوقربانیو پەزغملو سره دخدای د دین د سرلوړۍ او د خدای د نظام د قایمولو لپاره جهاد کوی ، دوی خو مؤمنو مجـاهدینو ته د دښمنانو لقب ورکوی او ناپوهان یی ګڼی خو د دې ځواب هم الله تعالی ورکړیدی چی د ایمان او جهاد لاره د ناپوهۍ لاره نده بلکی پخپله دوی ناپوهان دی چی د سمی لاری پر ځای د کفر او الحاد پر اغزنه لاره روان شویدی او په لاشعوری ډول ورباندی ټینګار کوی

دوی د عصر له لوی شیطان یعنی روسی کمونست دولت سره تعهد کړیدی چی د مرګ تروروستۍ سلګۍ پورې به پخپله وفاداری کی هیڅ ډول قصور ونکړی او ملګرتیا به یی پری نږدی خودایمان او اسلام ددعوې غږیږی که کله نا کله له خولی نه وځی ، هدف یی د افغانستان د مؤمن ملت

تیرویستل او غولونه ده او یا په بل عبارت ملنډی ور باندی وهی خو الله تعالی ددی ځواب هم منافقانو ته ور کړیدی چی الله به دوی ته د دوی د ملنډو وهلو درنده سزا ور کړی او او که اوس یی دیو څه وخت لپاره دطغیان دغړ وندی رسی ورسسته کړیده دا پدی خاطر ده چی درندو په شان څه وخت نورهم تیند کونه و خوری او د کړاوونو په طوفان کښی نوری دغری هم ووهی .

نجیب، دغه دکابل دکمونستانو علاقه دار پـدی وروستیو وختونو کښی چی خپل مرګ په سترګو وینی خپلی غونډی د قرآن کریم په تلاوت سره شروع کـوی او پخپلو ویـنا وُ کښی هم د قرآن آیتونه لولی !! خو ایاله خلکونه دا پټه ده چی ده دقرآن کریم نسخی پـه تشنابونو کښی په پوره توهین سره پانی پانی وغورځولی کله چی په تیرو کلونو کښی دخاد د جاسوسی او شیطانی دستګاه رئیس وُ ایا مظلومو مسلمانو بندیانوته به یی نه ویل چی : غږ کړه خدای ته دی چی خلاص دی کړی ؟ چیرته دی ستا هغه خـدای چـی تـه ور باندی ایمان لری ؟

نجیب که منافـق او دروغجن ندی نو څه دی چی د کمونستانو په نمایشی غونډه کښی له یوی خوا دز بندی اعلانوی اوله بلی خوادافغانستان پر مسلمانانو باندی سکاټ تو غندی اور وی ؟

که نجیب د لیونتوب په څپو کښی غرق نه وی نوله مجاهدینو څخه

ولی د دزبندۍ او سولی هیله کوی ایاافغانستان جهادیو لس کاله مخکښی دده او دده د اسلافو پرضد یا په بل عبارت د کفر او الحاد پرضد نه وُ پیل شوی ، د افغانستان مسلمان ملت که پخپله خاوره کښی کمونـیزم منلای نو دایونیم ملیون شهیدان د څه لپاره دا پنځه ملیونه مهاجرین د څه لپاره دا په لکونو کونډی او یتیمان دڅه لپاره او داد سمسور افغانستان ورانیدل د څه لپاره وو ؟

نجیب که سرسام او لیونی نه دی او اعصاب یی له لاسه نـه وی ور کړی نو دی څنګه د خپلواکۍ استقلال اوملی غیرت شعارونه ورکوی ایادی دروسانو لخوا دکابل پرګاواکه تخت دده دااسلافو ترەکی ، حفیظالله اوببرک په خیرندی کښینول شوی ؟

ایا دوی پـه روسانـو بانـدی افغانستان خرڅ نکړ ؟ ایا دا مجاهدین نه وو چی دایمان او قربانۍ په برکت یـی د سره ښامار له ستونـی څـخه افغانستان را وویست ؟

ایا ددین فروش او وطن فروش نجیب له خولی سره دا شعار ښائی چی د افغانستان ملت هیڅکله دپردیو یرغل او تسلط ندی منلی ؟ برعکس دا خو دافغانستان د مجاهد ملت شعار دی چی پرون یی انګریزی استعمارته غابښ ماتوونکی ګوزار ورکړی وُ او نن یی روسی استعمار ته داسی درس ور کړ چی بیابه هیچیرته د نورو پر خاوره باندی تیری او تجاوز ته زړه ښه نکړی .

ددی ټولو دلایلو د موجودیت سره سره نجیب دمسلمانۍ، وطندوستی خپلواکۍ اوملی غیرت شعار ورکوی نو یی له دی چی دده دا ټولی خبری د څنکدن په وخت کښی د مریض له اوتو بوتو ویلو سره تشبیه کړو بل نوم نشو ور کولای .

ابوضياء الدين

# ازمېښت

لکه څنګه چې د افغانستان د مؤمن ولس يوائځنۍ هيله چې هغه د مجاهدينو له منځه د مجاهدينو مؤقت اسلامي دولت اوحکومت ؤ څو ورځې ترمخه د هيواد د مختلفو ولايا تـو د مشهـو ر و قوماندانانو، علماؤ اومشرانو لخوا د مشورتي شورى په ترځ کښې تصويب او اعلان شو، زمونږ د مشرانو پەدې مثالي قدم اخيستلو سره له يوې خوا د جهاد يو نيم مليون شهيدانو، پنځه مليونه مهاجرينو، کونډو، رنډو اوماتو ګوډو او دسنګر اتلو مجاهدو آرزوګانې د پوره کيدو په حال کښې دي، له بلې خوا د نړۍ د استعمار خوا کو نو تو طئې او دسيسې دناکامۍ سره مخامخ شوې.

مونږ پداسې حال کښې چې د مجاهدينو د اسلامي انتقالي دولت او حکومت د زړه له کو مي او بشپړ ملاتړ او تائيدکو، پەعين حال کې هغەدروند مسئوليت چې زمونږ د مسلمان ملت پەوړاندې ددغەدولت اوحکومت په غاړه پروت دي څېړو.

د اسلامي انتقا لي دولت او حکومت ترهرڅه لومړۍ وظيفه د افغانستان د ګو ډ اګی ر ژ يم نسکورول او پرځای ئې اسلامي دولت قائمول، او سوله او امنيت را و ستل د ی .

په عين حال کې به داحکومت اودولت چې دمجاهدينو اوشهيدانو دکورنيو لەمنځه جوړشوی وظيفه ولری چې د يوولس کلن جهادد شهيدانو دکورنيو او يتيمانو پالنه او د معيوبينو د سرپرستۍ سره او اساسي دنده د زړه له کومې په بشپړه توګه سرته رسوي.

زمونږدجهادي تنظيمونو مشرانو چې زياتروئې په کلونو کلونود اسلام د سپيڅلي دين د سرلوړی لپاره زندانونه ګاللي او دجيلخانو د تورو تيارو تر شا ئي د انسان دښمنه ګوډاګيو کمونستانو لخوا راز راز شکنجې اوتکليفونه زغملي د همدغه جهادي دروندمسئوليت د تر سره کولو لپاره د دښمن په جيلونو کې تربيه شوی ؤ.

له کومې ورځې چې مزدو ر و کمونستانو دتره کي لعين پەمشری په هيواد کې قدرت تر لاسه کړ او ء جلا ئې د اسلام د سپيڅلي دين د له منځه وړلو پـه تـکل پيل وکړ او مسلمانانو هم دخپل دين، ناموس، عزت او پت د ساتلو په خاطر خپل وسله وا ل جهاد اعلان کړ نو د افغانستان پەټولو وګړودامتحان اوازميښت لوی دور را غی چې الحمدلله د هيواد ۹۵ فيصده خلک په دغ ه الهی امتحان کې بريالي شول دګوتو په شمير کمو نستانو څخه پرته نور ټول ملت د اسلام دسپيڅلي دين لپاره دقرباني دګرته حاضرشو همدا راز زمو نږ مشران هـم د ازميښت له دور سره مخامخ شول چې الحمدلله ټولوئي پەروڼ تندي دا مرحله تيره کړه او يو هم د کفر او کمونيزم په خيالی دام کی پری نه ووت او له دهري او ګوډاګي رژيم سره يې سازش تەغاړه کينښوده او خپل وسلەوال مقاومت ته ئې ادامه ورکړه .

اوس چې د جهاد د برى پړاو رارسيدلی اسلامي حکومت اعلان شوی د کابينې زيا تره و زير ا ن تعيين شو ی او حتی د هيـوا د د ننه ئې په جلسو هم پيل کړی د ری اسلا مي حکو متو نو هـم په ر سميت پيژندلی، اوپەاسلامي کنفرانس کښې ئې د افغانستان چوکۍ هم ترلاسەکړی نو ددی

ایجاب کوي چې ټول مجاهد ملت خپلو نویو مسئولیتونو ته متوجه شي مشران هم په عملي توګه د زړه له کومي خپل ټول تنظیمي صلاحیتونه اسلامي انتقالي دولت او حکومت ته انتقال کړي ترڅو له یوې خوا په پوره ډاډ او اطمینان سره د دولت کابینه په خپل کار پیل وکړي او خپلو ذکر شویو اهدافو ته په پوره بري ورسیږي او له بلې خوا د دې دولت او حکومت اعلان هم د هغه بل مؤقت حکومت په شان خدای مکړه د ناکامۍ سره مخامخ نه شي او که خدای مه کړه د دې حکومت آینده هم د خپل سلف په شان شي نو په نتیجه کښې به د جهاد د شهیدانو وینې ضایع شوې

وي خدای مکړه د مشرانو اعتبار به په ملي او بین المللي ډګر کې کم شوی وي، او د دښمن ټولو د سیسو او توطئو به تحقق موندلی وي .

نو اوس د ازمېښت بل دور دی خدای دې وکړي چې له دې دور څخه هم په پوره بري ووځي او خپل مسئولیت لومړی د خدای په وړاندې او بیا د خپل مجاهد ملت په وړاندې ترسره کړي حضرت پیغمبر (ﷺ) فرمایي

ترجمه : هرهغه مقتدر یا والي چې د مسلمان رعیت د چارو واګې به لاس کې واخلي، او بیا هغه د دوی په حق کې خیانت وکړي او د همدغه خیانت په حالت کې وفات شي، نو الله پاک جنت ور باندې حرام ګرځوي چې البته دا د تغلیظ له وجهې دی. بخاري او مسلم

همداراز بل حدیث کې پیغمبر (ﷺ) فرمایي :

ترجمه : هر آمر که څه هم د لسو تنو آمر وي د قیامت په ورځ به په ځنځیر کې تړلی حاضر کړای شي اوله محاسبې وروسته که ئې عدالت کړی وي نو هغه به ئې ورڅخه خلاص کړي، او که ظلم ئې کړی وي نو ظلم به ئې هلاک کړي .

زمونږ مجاهد ملت ته هم بنایي خپل درونډ مسئولیت درک کړي د زړه له کومي هر فرد د اسلامي انتقالي دولت او حکومت سره ملاتړ او تائید یې وکړي، کوم فرمانونه او هدایات چې د دولت او حکومت له خوا په مناسبو وختونو کې صادریږي بشپړ ملاتړ ئې وکړي کوم امانتونه چې چا ته سپارل کیږي په هغه کې د عدالت او امانت دارۍ څخه کار واخلي ترڅو خدای مکړه د قیامت په ورځ د حشر په میدان کې د خدای د رسول د دغه مبارک حدیث مصداق ونه ګرځي چې فرمایي:

ترجمه : یعني د قیامت په ورځ به خاین په خپل بیرغ پیژندل کیدای شي . بخاري او مسلم

او همداراز د خپلو مشرانو څخه دې د ځینو عادي نیمګړتیاو د لیدلو په وجه ناراضه کیږي او د اختلاف او ګوندۍ لاره دې نه اختیاروي . څکه پیغمبر (ﷺ) فرمایي :

ترجمه : یعني څوک چې د خپل امیر نه کوم شی ووینې چې هغه د ده خوښ نه وي، نو صبر دې وکړي څکه هرڅوک چې د جماعت څخه د یوې لویشتې په اندازه لیرې او مړ شي نو د هغه مرګ د هغه چا د مرګ په شان دی لکه چې په جاهلیت کښې مړ شوی وي . بخاري او مسلم .

نو په پای کې وایو چې مشران باید د کشرانو، شهیدانو، زخمیانو کونډو، یتیمانو، په سنګر کې پرتو اتلو مجاهدو او په کمپونو کې د بې وزله مهاجرو د احوال څخه ځان خبر کړي او کشران باید د خپلو مشرانو د شرعي اوامرو څخه په خوښۍ او ناخوښۍ کې کاملاً اطاعت وکړي خپلو مشرانو ته نیکي مشورې ورکړي ترڅو د مشرانو او کشرانو رابطه لا پسې محکمه او پیاوړې شي نه دا چې کمزورې او ضعیفه شي، لوی خدای دې ټولو ته د عمل توفیق ورکړي .

عبدالحق «عتید»

# غیبت و عواقب آن در مجتمع

دین مقدس اسلام درپهلوی سایر ارشا دات حیات آفرین خویش به مساله امر به معروف و نهی از منکر توجه خاص مبذول داشته ، وهر فرد م سلما ن را درچوکات طا قت وتوانائیش به این امر مکلف ساخته وفرموده است :

کنتم خیر امة اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر .

بودید شما بهترین امت که ظاهر کرده شدید برای مردمان ، امر می کنید به نیکی ونهی می کنید از بدی

در روشنائی این آیه کریمه به این حقیقت پی مـی بریم که رسالت فرد مسلمان دعوت بسوی نیکی و جلو گیری از زشتی ومنکر است ، وبهر اندازه که فرد مسلمان در تمسک به امور دینی اش پابند باشد بـهمان انـدازه در امر دعوت موفق وپـیروز اسـت .

موضوعیکه امروز زبان زد خاص عام است، وبدون کوچکترین تو جه وا لتفات به تحریم آن در میان مردم رواج یافته است ، مساله لب گشودن به آبرو وحیثیت شرف وعزت ، کرامت ووقار مسلمانان است ، این پدیده بطور روز افزونی درمیان اجتماع مسلمانان انتشاریا فته که حتی درمجلس علما واهل درک وفهم بگـوش مـیرسـد و چه بسا که عامل کدورت ها وکـشیدگـی ها وکـشمش ها ی گروهی گردیده است ، در حالیکه اگراندکی بخود اجازه دهیم وپرده از روی ضمیر ووجدان عقیده و ایـمان خویشتن دورنمائـیم وبـه نصوص قرآنی وآثار نبوی(ص) مراجعه کنیم درخواهیم یافت که این عمل نه تنها سبب تیره گی روابط بین افراداواجتماعات میگردد بلکه مرتکب اونیز در پیشگاه خداوند (ج) مستحق عذاب دردناک است ومسئاله غیبت ازگنا هان کبیره محسو ب شده ، روی این ضرو ر ت و آگاهی هرچه بیشتر مجاهدیـن ورهـ روان راه حق که در شرایط خیلی دشو ار ونازک حیات بسر می برند وتوطئهٔ های دشمن شب وروزدر پی آنها روان است لازم دانستیم تا نکاتی چندی پیرامون این مطلب ازنگاه قرآن وحدیث تحریر دار م .

## غیبت از نگا ه قرآن

خدا وند متعال فرموده است : و لا یغتب بعضکم بعضاً أیحب أحدکم أن یأکل لحم أخیه میتاً فکرهتموه

وغیبت نکند بعضی شما بعضی را آیا دوست میدارد یکی از شما که بخورد گوشت برادر مردهٔ خودرا (نی دوست نمی دارد) پس بد بدانید آنرا (غیبت را هم چنان بدشمارید )

در آیة دیگری فرموده است : (ولا تطع کل حلاف مهین هما زمشاء بنمیم .

واطاعت مکن سخن هر بسیار سوگندخور ندهٔ محقر را ، بسیار عیب گو ئی برنده چغلی .

ونیز گفته است : ویل لکل همزة لمزة وای برهر طعنه زننده عیب جو .

نظر مفسرین درمورد این آیات :

حسن گفته است : غیبت به سه قسم است که هر کدام آن در کتاب خدا آمده است :

غیبت ، افک وبهتان . اماغیبت آنست کـه درباره برادرت چیزی گوئی که در وی موجود باشدوافک آنست

بقیه درصفحهٔ ۳۳

# دحق پاخون بن

چا چی په مؤمنو نارینه ؤ او مؤمنو ښځو باندی ظلم او تیری وکړ
اوبیا ئی ورڅخه توبه ونه ایستله،ارومرو دهغوی لپاره د دوزخ عذاب
دی او دهغوی لپاره دسوځیدو سزاده، کومو خلکو چی ایمان راوړی
دی او ښه عملونه ئی کړیدی‌ارومرو دهغوی لپاره دجنت باغونه دی،
چی د هغوی لاندی به ویالی بهیږی اوهمدا ډیرستربریالیتوب دی.

(البروج)

- د ا
روایت د
به ویل:
دروږم ل
،زوړو ل
پناه درو
اومرگ ل
په یوه‌رو
او دپور
خلك په م

- دزیدبن ارقم (رض)
چی پیغمبر (ص) به ویل:
ته پناه دروړم له هغه
گټور نه وی ، له هغه
ستاویره پکښی نه وی،
نه چی هیڅکله نه مړیږ
دعا نه چی قبوله نکړ

- دحضرت عائشی (رض)
چی‌پیغمبر (ص) به په د
دعا کوله: خدایه زه
فتنې اودشمنی اوبیوزل
پناه دروړم.

## اندرزهای سودمند

۱ - کسیکه درانجام عمل نیك رضا وخوشنودی خداوند(ج) را ترجیح بدهد خداوند(ج) ضمانت اورا از شر مردم میکند.
۲ - قناعت سبب سعادت است.
۳ - رضایت وجدان بزرگترین مسرت ها برای انسان است.
٤ - دروقت غضب شیکبائی‌وحلم - دروقت بدی عفووگذشت.
٥ - حقیقت گرانبهاترین چیزی است که ماباید دایم دربکاربردنش معتقدباشیم.
٦ - حق سنگین ومشکل اما خوش مزه است , وباطل سبك اما دردناك وخطرناك است.
۷ - حق همان افتابی است که تاریکی راگم وگرمي رابه میان می اورد.
۸ - چون بدی کردی عفو بخواه وچون به تو بد کردند ببخش.

## نبوي ملغلري

نس بن مالك (رض) څخه
ىچي رسول‌الله صلى‌عليه وسلم
لويه خدايه زه تاته پناه
ه عاجزۍ، سستۍ، بېزړه توب
ي او بخيلۍ نه، او تاته
وړم دقبر له عذاب اوډژوند
ه فتني څخه (اودمسلم شريف
ايت سره داهم راغلي چې)
له پيټې او له دې خبرې‌چې
ا برلاسى او زورور شى.

نه روايت دى
خدايه زه تا
علم څخه چه
زړ. نه چه
له هغه نفس
ى او له هغى
ى شى.

- دحضرت ابوهريره (رض) نه روايت دى چې رسول الله صلى‌عليه وسلم به ويل: يا الله زه له لوږې نه تاته پناه دروړم ځكه چې له هغې سره شپه تيرول ډير بد دى، اوله خيانت نه پناه دروړم چې‌هغه دانسان باطن ډير زيات ناولى كوى.

څخه روايت دى
ى كلمو ويلو
تاته داورله
ى له شرڅخه

- قطبه بن مالك (رض) وائى چې پيغمبر (ص) به ويل: لويه خدايه زه تاته له بدو اخلاقو، بدوعملونو او له ناوړو غوښتنو څخه پناه دروړم.

### از اندرزهای حکیمانه لقمان (رح)

۱ - دوست زيرك ودانا گزين!
۲ - در كار خيرجدوجهدنماى!
۳ - تدبير بامردم مصلح ودانا كن!
۴ - سخن بحجت گوى!
۵ - جوانى را غنيمت دان!
۶ - بهنگام جوانى كاردوجهان راست كن!
۷ - ياران ودوستان راعزيز دار!
۸ - بادوست ودشمن ابرو كشاده دار!

هوكى ! كه په كارونو كښى تندى اوعجله شيطانى عمل دى نو په لاندينيو پنځو امور وكښى بيا سنت ده:

۱ـ بى وزلى ته ډوډى وركول كله چې د چا ميلمه شى.
۲ ـ د مړي كفن اوخاروته سپارل.
۳ ـ د خور اولور ودول كله چې پيغله شى.
۴ ـ د پور «قرض» اداء كول.
۵ ـ د بد اوناوړه عمل پسى سمدستى توبه و يستل.

که در باره برادرت چیزی بگو ئی که از دیگران بتو رسیده است . وبهتان آنست که در مورد برادرت چیزی بگوئی که در وی موجود نباشد .

ابن عباس (رض) گفقه است : خداوند این مثال را برای آن در باب غیبت ذکر نموده که‌خوردن گوشت مر ده حرام ونجس است ، هم چنان غیبت دردین حر ام بوده‌ودرنفوس ناپسند است .

قتاده گفته‌است: همانطوریکه شما از خوردن گوشت مر دهٔ برادر تان نفرت دارید، بایدهمانطور از غیبت برادر زند ه تان اجتناب کنید

در مورد آیهٔسوم ابن عباس فرموده است : همزه ولمزه کسانی اند که به‌سخن‌چینی‌روند ، ودر میان دوستان فساد ایجاد کنند وبرای بی گناهان عیب تراشندوپیامبر (ص) فر موده است : بدترین بندگان خدا آنهائی‌اند که‌به‌سخن چین روند ، در میان دو ستان فساد ایجاد کنند ، و برای بیگناهان عیب جستجو نمایند .

ودر روایت دیگری ابن عباس(ض)آمده‌است که : همز ة بسیار سخن چین را گویند ولمزه بسیار عیب جورا .

ابو العالیه ،وحسن‌ومجاهد وعطاءبن رباح گفته‌اند: همزه کسی راگویندکه‌غیبت کندوطعن‌روبروی گویدولمزه کسی را گویند که از پشت سرو در غیاب بدگوئی کند واین قول مورد تائید نحاس قرار گرفته است .

قتادة ومجاهد گفته اند: همزة کسی راگویند که به‌مردم بسیار طعن گوید ، ولمزه کسی‌را گویند که در نسب مردم طعن وارد نماید .

## دلایل تحریم غیبت درحدیث :

عن‌ابی‌هریرة رضي الله عنه أن رسول‌الله صلى الله عليه وسلم قال : أتدرون ماالغیبة ؟ قالوا الله ورسوله أعلم . قال : ذکرک‌أخاک بمایکره ، قیل : أفرأیت ان‌کان فی أخی ماأقول ؟ ان کان فیه ماتقول فقد اغتبته ، وان‌لم یکن فیه ماتقول‌فقد بهیته . رواه مسلم .

ابوهریرة رضي الله عنه از پیامبر صلى الله عليه وسلم روایت نموده که آنحضرت فرمود : آیا میدانید که غیبت چه راگویند؟ ( اصحاب ) گفتند خدا و رسول او بهتر عالم است . پیامبر صلى الله عليه وسلم فرمود : یادآوری برادرت‌به امری که‌اورا بدپندارد ( برای‌آنحضرت ) گفته شد ، بمن بگو اگردر برادرم آن گفته ام موجود بود ؟ پیامبر صلى الله عليه وسلم فرمود اگردروی آنچه که گوئی موجود بود در حقیقت اورا غیبت کرده ای ، واگر موجود نبود تو اورا بهتان بسته ای .

و عن انس رضي الله عنه قال: قال‌رسول‌الله صلى الله عليه وسلم : «لماعرج بی مردت بقوم لهم أظفار من نحاس یخمشون وجوههم وصدورهم فقلت : من‌هولاء یاجبریل ؟ قال :هولاءالذین یأکلون لحوم الناس ، ویقعون‌فی أعراضهم .رواه‌ابوداود

از انس رضي الله عنه روایت است که پیامبر صلى الله عليه وسلم فرمود : زمانیکه مرا در شب‌معراج بردند گذرم به قومی افتاد که ناخن های شان از مس بود وبه روی‌ها وسینه های خویشتن چنگ میزدند ، از جبریل پرسیدم که اینهاچه کسانی اند ، گفت : اینها کسانی اند که گوشت های مردم خورده اند ، وبه آبرو وحیثیت آنها زبان‌گشوده اند .

« درحدیث دیگری آمده است : مالی أری‌خضرة اللحم من افواهکما ، فقالا یانبی‌الله ،الله ماأکلنافی‌یومنا هذالحماً ولاغیره . فقال : ولکنکما ظلتما تأکلان لحم سلمان‌وأسامه .

درشان ورود این حدیث آمده است که دوتن از اصحا ب پیامبر صلى الله عليه وسلم یکتن از رفقای خودراغیبت‌کردند بطوریکه حضرت سلمان رضي الله عنه رابرای آوردن‌طعام‌بجائی فرستادند ، نامبرده خالی برگشت ، آنگاه در میان خود گفتند : اگرسلمان رابه چاه سمیحه به آب بفرستیم ، آن چاه خواهد خشکید ، بعد ازین دوتن بسوی اسامه‌روان شدند تانزد وی طعام بدست آرند ، پیامبر صلى الله عليه وسلم آنها را درمیان راه یافت و این حدیث برای شان یاد آوری

کرد که ترجمه آن چنین است :

مراچه شده است که آثار گوشت در دهان شما می بینم ، آن دومرد گفتند : ای رسول خدا ما امروز نه گوشت خورده ایم ونه چیزی دیگری ، آنحضرت فرمود : نه بلکه شمادوتن هنوز درحال خوردن گوشت سلمان و اسامه اید .

به این ترتیب می بینیم که پیامبر ﷺ غیبت را چقدر گناه بزرگ می پندارد که آثار آن را در دهن اصحاب خود مشاهده می کند ، چنانچه آیات قرآنی هم به صراحت به صدق این مطلب اشاره می کند ، وغیبت کردن را مساوی به خوردن گوشت برادرمیداند که مرده باشد . واین تشبیه بدان جهت است همانطوریکه مرده نمیتواند به خوردن گوشت خود احساس کند به عین شکل کسی که ازوی غیبت میشود نمیتواند بداند

ابن عباس ( رض ) گفته است : خداوند این مثال را برای آن بیان داشت همانطوریکه خوردن گوشت مرده حرام و نجس است ، غیبت کردن در دین نیز حرام وقبیح است .

قتاده گفته است : قسمیکه هرکدام شما ازخوردن گوشت برادر مرده خود امتناع می کند همانطور بایداز غیبت امتناع و خودداری نماید .

پیامبر (ﷺ) فرموده است «ماصام من ظل یاکل لحوم الناس ، کسیکه به خوردن گوشت مردم ادامه دهد روزه نگرفته است : درین حدیث زبان دراز کردن به عیب مسلمانان را به خوردن گوشت آنان تشبیه کرده است بنابرین کسیکه به آبرو وعزت مسلمانان لب گشاید در واقع به خوردن گوشت آنها مبادرت ورزیده است .

درحدیثی دیگری فرموده است : یامعشر من آمن بلسانه ولم یدخل الایمان قلبه لاتغتابوا المسلمین .

ای جمعیت کسانیکه به ز بان ایمان آورده اند و ایمان درقلب‌شان‌جای نگرفته ، مسلمانان‌راغیبت‌نکنید .

## موقف علمادرباره غیبت

ابوقلابهٔ رقاشی گفته است : از ابوعاصم شنیدم که میگفت : از وقتیکه به گناه غیبت پی بردم‌هرگزکسی راغیبت نکرده ام . میمون بن سیاه نه کسی راغیبت می کرد ونه به کسی اجازه می داد کـه در نزدوی غیبت کنند ، بلکه او را از غیبت باز میداشت ، اگر خودداری می کردخوب، والاازنزد وی بر میخو است

ابوهریرة رضی الله عنه روایت می کند : شخصی از نزد پیامبر ﷺ برخواست چون اصحاب دیدند که وی به مشکل ازجای برمی خیزد ، گفتند : ای رسول خدا !

فلانی چقدر عاجز شـده است ، پیامبر ﷺ فرموده :
( أکلتم لحم أخیکم وأغتبتموه ) گوشت برادر تان را خوردید و اورا غیبت کردید .

سفیان ثوری گفته است : ادناترین غیبت آنست که بگویند : که فلان ژولیده موی است .

حضرت عمر رضی الله فرموده است : هوشدارید از غیبت مردم ، چون غیبت مرض است . وبر شماست که خدا راذکرکنید چون‌ذکر خدا شفابخش مرضهاست .

علی‌بن حسین شخصی را شنید که غیبت می کند برایش گفت : از غیبت بپرهیز ،زیراکه غیبت‌نان‌نرمی مرد مان سگ است .

باید یاد آور شد که تحریم غیبت نسبت بـه حالت هر فرد مؤمن‌فرق میکند ، به این‌ترتیب که اگر مردمؤمن به هر اندازه که از ایمان و تقوا برخوردار باشد بهمان اندازه تحریم در غیبت وی شدید است ، و بهراندازه که از ایمان و تقوا بی بهره باشد بهمان اندازه تحریم درغیبت وی ضعیف است .

و اضافه باید کرد کـه لب گشودن به عیوب مردم بدو نوع است :

یک اینکه بصورت عموم بدون ذکر نام شخص « معین عیب بیان گردد ، و دیگری‌اینکه‌شخص معینی را مورد عیب جوئی وطعن قرار دهد.

در قسم اول باید گفت : هر طائفه را که خدا و پیامبرش نکوهش و سرزنش کرده باشد ، نکوهش و تقبیح وی واجب است ، و این امر از غیبت به‌حساب نیاید ، همانطوریکه هرطائفه راکه خداوند و پیامبرش مدح و تحسین کرده، تمجید و قدر دانی از وی‌واجب است . آنکس راکه خدا و پیامبرش لعنت گفتـه است لعنت گفته شود وآن کسی را که خدا وپیامبرش توصیف نموده ، ستوده شود . نظر به این قاعده خداوند کـافر فاجر ، فاسق ، ظالم ، گمراه ، حاسد، بخیل ، جادوگر رباخوار ، ربا دهنده ، دزد ، زانی ، متکبر ، مستکبر ستمگر ، خائن و زورگو و امثال اینها راتقبیح ونکوهش نموده است . و در مقابل خـدا و ند مؤمن پر هیـز گار راست گو، نیکوکار ، عدالت پیشه ، رهیاب‌شده، رهنما و مرشد، سخی وجواد ، صدقه دهنده، مهربان وامثال اینها را ستوده است . رسول خدا رباخوار و ربا دهنده شاهدین ربا ، نویسنده ربا و حلال کننده آن را لعنت گفته است . وهمچنان کسانی که عمل قوم لوط راانجام دهند مورد لعنت پیامبر «ص» قرار گرفته است . و نیز آنهائیراکه بدعت را در دین جاری سازد و به فاعل آن پناه دهند لعنت گفته است و همچنان به شراب‌خوار و شراب ساز وکسیکه با شراب معامله کند ، لعنت گفته شده است .

با در نظرداشت اینهمه نصوص به این مطلب‌میرسیم که مسله غیبت در اجتماع مسلمانان منحیث یک عامل مهلک وتباه‌کن معرفی شده وچه بسا که اساس‌بسیاری از فتنه ها و در گیریها وجود همچو گمان های بی‌مورد وحرفهای ناجایز است که اعتماد مسلمانان را نسبت بیکدیگرصدمه دار ساخته و هر کدام نسبت به برادر خویش که در همه اصول اسلامی باهم‌نظر مشترکی‌دارند به دیده شک و تردید می نگرند وهر کدام می کوشند پیش دستی رقیب خود را از پای در آرند و برحریف خود غلبه حاصل کنند ، در حالیکه اگر مساله غیبت‌و بد بینی نباشد هرکدام باهم برادربوده وهیچ یکی رقیب و حریف دیگری نیست ، بلکه برادرهای‌صمیمی اندکه اسلام وپیوند اخوت عقیده و ایمان‌آنها را بهم نزدیک ساخته است .

مراجع ـــ
الجامع لاحکام القرآن
تفسیر کابل ، ریاض الصالحین

محمد امین مموزی

# په افغانستان کښې د روس او کمونیزم د ماتې عوامل

## [یوه علمي څېړنه]

دا ښکاره خبره ده چې کمونیزم دخپلې غیرانسانی کړنلارې له امله د بشرې فطرت‌ضد اوانسانی عزت‌منافی تیوري ده .

کمونیزم په غیر اسلامی نړۍ کې لاتراوسه دتطبیق پړاوته نه دی رسیدلی او که په روسیې یا د شرقې اروپا په ځینوهیوادونوکې دماشیندارو اوقمچینو په زورپه خلکوتحمیل‌شوی خو ددی په عوض چې دارتقا په لور پرمخ ولاړشي دفقراء په طرف‌په شا راځې اودعوامو کرکه اونفرت‌ورڅخه ورځ په ورځ زیاتیږي اودکمونیزم‌په جال کې‌له هغه نه‌دخلاصې‌په خاطرلاس او پښې وهي او د آزادۍ غوښتنې شعارونه ورکوي .

افغانستان چې داسلام زانګو ده دابالکل طبیعې خبره وه چې کمونیزم به په هغه‌کې ماته خوري‌اودسوسیال امپریالزم پوځونه به بیرته تګ او د افغانستان پریښودوته مجبوریږي .

که دا سوال پیداشې چې په ثمرقند اوبخارا کې خوهم‌اسلام‌موجود اوخلک یې مسلمانان وو نوهلته ولې کمونیزم ماته ونه خوړه اوله اوږدې مودې راهیسې دروس دظالمو حکامو سلطنت ورباندې جاري دی ؟

دثمرقند او بخارا او د روس د نورو اسلامی مستعمراتو مسلمانانو خپل‌اسلامې‌رسالت اوجهادی‌مسؤولیت ترسره کړ ، پوره لس کاله په داخل کې له کمونستانو سره وجنګیدل خو متسئفانه چې خارجې ملاتړ ورسره نه وو ، دافغانستان دهغه وخت‌حکومت چې په رأس کې یې بې دینه امان‌الله اوپه سالارۍ نادرخان وو نوسربیره په دې چې کومه پوځې او اسلامې مرسته یې‌ورسره ونکړه ،کومومهاجرینو چې له روسانوڅخه دافغانستان‌خاورې ته پناه راوړه نادر خان د امان‌الله په دستور او دروس په پیشنهاد په هغو باندې پوځې یرغل وکړ ، هغه ئې ووهل ، وتکول او د آمو له سیندنه یې هاخوا بیر ته تګ ته مجبور کړل آن تردې چې له آمونه د پورې وتو په وخت یې هم زړه ورباندې ونه سوځیده اوپه‌داسې‌حال کې‌چې‌مهاجرین په بیړ یو کې له خپلو تور سرو او ماشومانو سره سپاره وو نادر خان او د هغه عسکرو ورباندې ډزې وکړې او داکثروبیړۍ یې په اوبو کې‌ډوبې کړې .

دافغانستان دمسلمانانوبخت‌دلته ویښ وو چې کله یې روسانو په‌خاوره پوځې تیری وکړپه څنګ کې‌یې‌دوه اسلامی هیوادونه (پاکستان اوایران) موجود وو او حکومتو نه یې هم د

بادردو او زیرکو مسلمانانو په لاس
کی وو ، افغانانو خپل کورو نه او
ماشومان په پاکستان اوځه هم ایران
کیښځای کړل او دنوموړو هیوادنو
حکومتونو اوعامو خلکو ورته ډیرښه
هر کلی ووایه او د خپلو محدودو
وسایلو سره سره یی هرډول مادی او
معنوی مرستی ورسره پیل او جاری
وساتلی ، همدا وجه وه چی افغانی
مهاجرین په ډاډه زړه د خپل اسلامی
ناموس دساتلو اودخپلی خاوری دګټلو
اودروس دسره استعمارنه یی دآزادولو
او په هغی کی د یو سوچه اسلامی
دولت دجوړولو اودکفر اوکمونیزم
د له منځه وړلو پخاطر ئی وسلهوال
جهاد په پوره همت او میړانه زیات
منظم اوجاری وساته .

دافغانستان خلک پاک مسلمانان
وو او د ختیځ او لویدیځ د ګمراه
کلتور تراغیزی لاندی نه وو راغلی او
دعیاشی په ناکاره دام کی چی دستوالی
او بی غیرتی سرچینه ده
نه وونښتی . همداوجه وه چی داسلام
او وطن نه دقربانی په لار کی آماده
وو او په دغه لار کی یی خپل سر
او مال و نه سپموه . خودا هم باید
هیره نکړو چی خپل ولس ته د مبارزی
او جهاد فکر ور کول او هغوی ته
کمونستان او د کمونیزم د حیوانی
فلسفي اوتیوری ورپیژندل دافغانستان
د اسلامی تحریک د مسلمانو ځوانانو
د فعالیتونو مثبته نتیجه او نه
هیریدونکی کارنامه ده .

د اسلامی تحریک مسلمان
ځوانان وو چی د روس د یر غل نه
یی لاڅو کاله پخوا د کمونیزم او
کاپیتالیزم په ضد مبارزه پیل کړی
او ددوی د داعیونو او پلویانو کفر
او مادیت یی عامو خلکو ته ور په
ګوته کړ . که د مسلمانو ځوانانو
پخوانی مبارزی او مظاهری او دقلم
او بیان تبلیغات نه وای هیڅ شک نه
وو چی عام مسلمانان ناخبره ګیر کیدل
او ژر څو چی په ځان پوهیدل
کمونیستانو ور څخه بنکی ویستلی
او هیڅ لورته به یی دالوتلو اوځان
خلاصولو توان نه وو میندلی .

دا چی کمونستان وایی زمونږ
په ضد هغه څوک را پاڅیدلی چی
فیوډالان او سرمایه داران اواشرافیون
وو او له دوی سره د خپلو ځمکواو
کار خانو او په عوامو باندی دتسلط
او بادارۍ اندیښنه وه چی مونږ
ور څخه ملی کړی دی ! دا بالکل
یوه غیر واقعی او پوچه ادعاء ده ،
د افغانستان فرد ، فرد ته ثابته ده چی
کمونیزم دپورتنیوخلکو له کورونو نه
راووت د همدغو کسانو زامن په
لومړی سر کی بیدین او کمونست
شول او د غریبو خلکو ، کارګرانو
بزګرانو او کسبه کارانو په وینو
لړلی جنډه یعنی د کمونیزم سورییرغ
یی په لاس کی نیولی اودافغانستان
په ښارونو او کوڅو کی یی او چت
کړی وو .

تره کی د ظاهر شاه د دولت
یو لوړ رتبه مامور یعنی د دولتی
انحصاراتو رئیس او په امریکا کی
مطبوعاتی اتشه او لوی سرمایه دار
وو . امین یو لوی فیوډال او دولتی
لوړرتبه مدیر وو .

ببرک یو اشراف زاده یعنی د جنرال زوی وو . نجیب د ظاهر شاه دارگ د باغوان باشی زوی او غټ سرمایه دار وو .

د کمونیستانو دلیډرانو نومونه د مثال په توگه ذکر شول .

که له دوی نه را ښکته کسان یې وڅیړل شی هیڅ یویې هم دکارگر او مزدور او بزگر او کم بېه کار او د فقیر او غریب زوی نه دی ، که کوم غریب یا د غـریب زوی ور داخل شوی وی هغه به هم د دوی د دهقان یا مزدور او لاد وی چې په زور او تهدید یې له ځان سره ملگری کړی' اوس خـودا خلـک د خـپل طبقاتی خصلت له مخی هیڅ کله هم ورته و فا دارنه پاتی کیږی اکثره یې د افغانستان د مسلحانه جهاد په وخت کې مجاهدینو ته تسلیم شول د کمونستانو د غـلامی کړیـه یې له غاړی و غورځوله او د مجاهدینو په صف کې و در یدل اود خپلو پخوانیو کمونستو ملگرو او ملحدینو په ضد یې جهاد پیل کړ .

مسلمانو ځوانانو دانـه یواځې چې د افغانستان خلـکو ته جـهادی شعور ور کړی اوهغوی یې جهاد ته و هڅول بلکې دوی پخپله په لومړی ځل وسله اخیستی او د کفر او کمونیزم په ضـد یې وسله وال جـهاد ته ور دانگلی دی .

دافغانستان طبیعی اوستراتیژیکی حیثیت او ماهیت ددغه هیواد د نسل په روزنه او پالنه کې مهم رول لری د افغانستان زیاتره برخې غرنۍ سیمې دی چې اکثره یې په طبیعی ځنگلونو پټی دی. دا طبیعی ده چې د غرونو استو گن دزمانی له فتنو او فسادونو څخه د نورو په نسبت پاک ساتـل کیږی ، د غرونو اوبه او هواء پاکه وی ، د پاکی هواء تنفس او دپاکو اوبو څښل د سالم روح او سالم بدن تظمینوونکی دی . غرنی سیمی دپخوکلا گانو او کاکو مورچلونو حیثیت لری د عسکری اوسوق الجیشی حیث له پلوه غرنی او ځنگلداره سیمی دلوړاهمیت وړدی ، دښمن نشی کولای چې په نوموړو ستراتـیژیـکی سیمو کې پـه آسانۍ سره نـفوذ و کړی ، بلکې بر عکس دغو سیموته یې ننوتل دخپل ځان په تباهی او برباد ی تمامیږی .

کمونـیزم په هـغه جـامعه کې نفوذ کولای شی چې خلـک یې بې دینه اوبد اخلاق وی . په هغه ټولنه کې چې دین او اخلاق مـوجود وی هلته انسانیت ' شرافت او کرامت موجود وی ' اودغه صفات انسان ته د آزادۍ غوښتنې او حریت پسندی درس ور کوی .

یهود د صهیونیت، په اصطلاح یومقدس کتاب کې چې تلمود نومیږی لیکی : « د صهیونیزم د پر مختـگ لپاره لازمه ده چې له ملتونو نه دین او اخلاق پورته شی ' تر څو چې د ټولنو د غړو مغزونـه له دیـن اواخلاق نه خالی نشی هغه دصهیونیزم منلو ته نه چمتو کیږی . ددغه مأمول د لاسته را وستو لپاره کمونیزم ډیره ښه وسیله ده او تر اوسه یې ددین او اخلاقو په فاسدولو کې ډیر مهم رول لوبولی دی . کارل مارکس زمونږ له دلی څخه دی ، ده ټولنوته د خپل مادی فکر په وړاندی کولو سره له دین سره د مبارزی لاره آسانه کړی فروید هم زمونږ سړی دی ' فروید د خپلی جنسی نـظر یـې په پیشنهاد د ملتونو اخـلاقی ستنې سستی کړی دوی دواړه یهودیان دی‌اودصهیونیزم دا نکشاف لپاره د دوی تیور ی ډیره مناسبه ده چې له نړیـه نه د دین او اخلاقو تغر ور ټول کړی !»

الحمدلله والمنته زمونږ افغانی ټولنه یوه سوچه اسلامی ټولنه وه او له الله (ج) نه‌امید د ی چې تل به په خپل دین ټینگه و لاړه وی .

زمونږ په ټـولنه کې د اسلام د مقدس دین له بر کته دینی او اخلاقی معیارونه په زیات اکثریت کې ثا بت پاتی اوټول خلک دهغوپا بندوواودی که څینې کم خلـک د کمونستا نـو دتبلیغاتو تر تأثیر لاندی راغلی وو هغوی هم دټولنې دا کثریت له ویری خپل کفر ښکاره کولای نشو او که

چیری به د کوم ملحد او کمونست له خوا د دین او اخلاقو په نسبت منفی عکس العمل وواته ډیر ژربه یې ددیندارو او د اخلاقو د خاوندانوله خوا په خوله سوک خوړلو او غلی به یې په ځای کښیناوه . همداوجه وه چې په افغانستان کې د کمونیزم د نفوذ ساحه ډیره تنگه او مځکه یې د دغې منحوسې تیورئ د دا نوړ زرغونیدو او ودې لپاره نامساعده وه .

د افغانستان په کوم کلی کې چې یویادوه کمونستان وه ، هغوی هیڅکله په ځان کې د اجرأت پیدا کولا ی نشو چې خلکو ته په آذادانه ډول خپله نظریه وړاندې کړي او د دین دارو خلکوله ویری به جومات ته هم تلل لمونځ او د قرآن تلاوت به یې کاوه او روژه به یې هم نیوله . که څه هم دوی په پورتنیو شیانو عقیده او ایمان نه درلود خو د خپلې کورنۍ او محیط له ویرې نه مجبور ؤ چې د دیني او اخلاقي معیارونو اوقوانینو پابندي وکړي ، چې دغه په ملحدینو او کمونستانو باندې دټولنې اومحیط د دیندارو او په دیني اخلاقو او قوانینو پابندو وگړو ویره دکمونیزم د ودې او پر مختگ د مخنیوی او د دوی د گمراه کو ونکو تبلیغاتو د شنډ ولو په کا رکې ستر عامل گڼلې شو. غواړودکمونستي پوچې عقیدې درسوائي نرڅنگ په راتلونکو کرښو کې په لنډ ډول درو سانو دپوځي ماتي عوا مل چې په مجاهد افغا نستان کې ورسره لاس گریو انشول ددرنو لوستونکو په خدمت کې وړاندې کړو :

د روس د پوځي ماتي عوامل په افغانستان کې پس له لس کلني جنگ نه په کوم کې چې ۳۵۰۰۰ روسان مړه او له ۴۵۰۰۰ څخه زیات ټپیان شول بر علاوه له دې نه ۴۰۰۰ روسي ټانکونه او نقلیه وسایل تخریب اود ۱۰۰۰ - ۱۲۰۰ پوری ډول ډول هلیکوپټری او طیاری له منځ نه وړل شوي دي . د بې طرفه مبصرینو په قول د روس اقتصاد ته د ۲۵ - ۳۰ بیلونه ډالروتاوان رسیدلی دی او په لاندې ډول خلاصه کولی شو :

۱ د مجاهدینو کلک عزم ـ او نه ماتیدونکی یقین د اسلام په حقانیت باندې .

۲ د مجاهدینو له خوا د سختو نامکنه شرایطو باوجود د سور فوځ د تش په نامه « نه فتح کیدونکی » رعب ته نه تسلیمدل .

۳ د کمونستانو غیر انساني مظالم او د افغا نستان دخلکو سخت نفرت له کمونیزم سره .

۴ ورځ په ورځ زیا تیدونکی مالي اوځاني تلفات .

۵ داسلامي نړۍ او غربي دنیا سخت عکس العمل .

۶ دافغانستان جغرافي موقیعت او په ټول افغانستان کې دمجاهدینو تیت اوخپاره اوسیدل .

۷ د پاکستان او ایران اسلامي رول او ددوی د سیاست ثبات .

۸ د روس د پوځ د عسکری طرحو نا کامیدل .

۹ د روس د پوځ تیټ مورال او د مجاهدینو لوړ مورال .

۱۰ روس پوځ ته دا جنگ اضافي بوج اوبې هدفه مرگ اومجاهدینو ته شهادت او دوطن آزادي .

۱۱ د کمونستانو خپل مینځي اختلافات او د روس ناکامی هلې ځلې چې دوی سره یو کړي .

۱۲ د روس په داخل او په مرکزي آسیا جمهوریتونو کې دروس پر غل په ضد د خلکو د احسا ساتو راپاریدل .

۱۳ دروس اقتصادته نه برداشت کیوونکې صدمه .

او د روس اقتصادي موضع .

۱٤ ددې نه ختمیدونکې جنگ سرایت دروس تر کنترول لاندې کمونستي هیوادونو ته لکه پولینداونور...

۱۵ د روس د بین المللي اعتبار سقوط .

۱۶ د مجاهدینو د قیادت ددې نه انکار چې کمونستانو سره ملي روغه جوړه و منل شي او یا هم ور سره دزبندي وشي .

۱۷ اوبالاخره روسي ناکامي هڅې چې د ایران او پاکستان سرحدات په دایمي ډول وتړي .

۱۸ د روس په دې کې ناکام کیدل چې هند او پا کستان سره په جنگ واچوي اوپخپله ورته د خیر په غنډې کښیني .

ع ابو طارق

# اختلاف وخلاف درشریعت اسلامی

جوانی از من سوال نمود: چگونه میشود که اختلاف را رحمت گفت؟ و این اختلاف امت اسلامی است که همه را در کاسهٔ سر آب داده است؟؟ من در برابراین سوال جز لیت ولعل نداشتم، ولی این اختلاف درهمه جا سایهٔ رحمت پنداشته میشود، نه تنها از علمای فقه این مطلب بارها شنیده ایم، بلکه دانشمندان ما نیزروی این قاعده که اختلاف امت من رحمت است، دربرابر همدیگر قرار گرفته اند وبه بهانه های بسیارمیان تهی اختلافات رادامن میزنند و ازاجتماع وائتلاف فاصله می گیرند و ازآیات صریح واحادیث صحیح چشم می پوشند، وگفته های اهل تحقیق رانادیده می گیرند. خداوند جل جلاله می فرماید:

و اعتصموا بحبل الله جمیعاً و لا تفرقوا - یعنی «وجملگی برشتهٔ دین خدا چنگ زنید وبراه های متفرق نروید» ودر همین سورهٔ مبارکه امر می گردد که «ولاتکونوا کالذین تفرقوا و اختلفوا من بعد ماجاء هم البینات» یعنی وشمامسلمانان مانند مللی نباشید که پس از انکه ایات وادله روشن «از جانب خدا» برای هدایت آنها آمد باز راه تفرقه و اختلاف پیمودند» وباین ترتیب باهمه وضاحتی که در مورد عدم اختلاف دیده میشود. بعضی ها اختلاف را رحمت فکر می کنند واین فرموده رسول الله صلی الله علیه وسلم را نادیده بسوی اختلاف رو می اورند و فکر نمی کنند که... لا تختلفوا فان من کان قبلکم اختلفوا فهلکوا» باین مفهوم که: شما ای امت اسلامی باهم اختلاف روا میدارید، چه کسانی که قبل ازشما بودند وباهم راه تفرقه را پیمودند هلاک گردیدند. که این ایات مبارکه و دهها حدیث همه روی یک مطلب اتکا می نماید که آن امر به وحدت و ائتلاف بوده و نهی از تفرقه واختلاف است.

اختلاف در لغت عدم اتفاق را گویند که هریک راهی را درپیش گیرد و طرق متفرق را تعقیب کنند برابر است که این گونه اختلافات در وضع وحالت دیده شودیا اقوال ورأی که اختلاف معنی عدم تساوی را نیز متضمن است، اما خلاف با انکه معنی عامتری را احتوا می کند، دلالت بهمان مطلبی میدارد که کلمه اختلاف رادر بر می گیرد.

اختلاف بمعنای اصطلاحی ان نزد فقها شامل اختلاف در اراء، ادیان و معتقدات بوده که انسان را بشقاوت روبرو میگرداند و یابه سرحد سعادت میرساند.

